- تحقیق و پژوهش در تعلیم و تربیت، به مجموعه فعالیت هایی اطلاق می‌شود که از طریق آن و با عنایت به اصول و روش های علمی، پدیده آموزشی وتربیتی، مورد پژوهش قرار می‌گیرد و هدف آن کشف اصول کلی یا تفسیر رفتاری است که از آن برای تبیین، کنترل و پیش‌بینی رویدادهای آموزشی استفاده می‌شود.
- گی ***Gay*** (۱۹۹۰) پژوهش در آموزش و پرورش را کاربرد منظم روشهای علمی به منظور مطالعۀ مسائل و مشکلات آموزشی تعریف کرده است.
- لیندرایف ***Lynderaife*** (۱۹۹۲) عقیده دارد : ما معلمان نمی‌توانیم خود را در صنف های درسی منزوی کنیم. ما باید بطور مستمر از خود بپرسیم که چه می‌کنیم؟ چگونه آن را انجام می‌دهیم؟ و چرا؟ ما باید به یادداشت‌برداری از عمل تدریس خود ادامه دهیم. چنین معلمی بوسیله بازتاب دائمی و بکار گرفتن نظام‌مند مراحل علمی و عملی، با مشاوران وهمکاران منتقد، آگاه و علاقمند به پژوهش خود به تبادل نظر می‌پردازد و با آن ها در باره تجزیه و تحلیل مسائل صنف درس تبادل نظر می‌کند.
- تدریس : عمل تدریس یک سلسله فعالیت های مرتب و منظم، هدفدار و از پیش طراحی شده است. فعالیتی که هدفش ایجاد شرایط مطلوب یادگیری است. فعالیتی که به صورت تعامل و رفتار متقابل بین معلم و فراگیر جریان دارد. یعنی ویژگی ها ورفتار معلم بر فعالیت ها و اعمال شاگردان تأثیر می‌گذارد و بالعکس از ویژگی‌ها و رفتارهای آنان متأثر می‌شود.
- معلمی و تدریس فعالیتی است عامدانه و از قبل برنامه ریزی شده، برای تهیه وتدارک شرایط و موقعیت هایی که در طی آن شرایط و موقعیت ها، افزایش مهارت خاص و یا پیشرفت و رشد اعتبار و منزلت انسانی افراد تحت تعلیم مد نظر است، به گونه ای که افراد تحت تعلیم بتوانند از سطحی که در آن قرار دارند به سطوح بالاتری از توانایی در زمینه های دانشی، اعتقادی، ادراکی و ارزشی ارتقاء یابند.

ادامه دارد

# دهیواد دفاعي او امنیتي ځواکونه د ملي یووالي ممثلین دي

د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د هیواد د ملي یووالي د ممثلینو په توګه د ورونو ملیتونو، قبیلو او قومونو د ملي یووالي، وروروليی او برابرۍ اغیزمن ښوونځي او د وطندوستي او ملت پالني نوي کانون دي، دا ځکه یو لړ شرایط او عوامل دي چې دوی او د دوی کورنۍ یوله بل اوبیا له هیوادني برخلیک سره تړي، د دي ځواکونو منسوبان له عادي سرباز څخه نیولي تر لوړ پوړو افسرانو پوري یو وخت په بارکونو، کاغوشونو او قشلو کي یوځاي اوسیدلي دي، په تیره بیا په دي پوځي استوګنځیو کي ددوي ګډه اوسیدنه او له مساویانه حقوقو او امتیازاتو استفاده د دوی ترمنځ د دوستۍ او وروروليی اړیکي ټینګوي او د پوره پوخوالي او یووالي مدارجو ته یي رسولي دي. له نن څخه د ډیري پخوا زماني خبره کوم په هغه وخت کي به افراد د مکلفیت دوري د تیرولو په خاطر د هیواد له بیلابیلو سیمو څخه له ښارونو نیولي، ترکلیو او باندو پوري د جلب او احضار مرکزونو ته سوق کیدل او یا به عسکري کورسونو، حربي ښوونځي او د ورو ضابطانو ښوونځیو ته انتخابیدل او یا به یي په حربي پوهنتون او نورو پوځي لوړو تحصیلي او تعلیمي موسسو کي زده کړي ترسره کولي. دا ټول عسکري منسوبین، افراد یا زده کوونکي به که محصلین وو دعملي او مسلکي کادرونو د ټولو کټګوریو د استادانو، ورو ضابطانو، قوماندانانو او آمرانو له خوا تر پوځي ښووني او روزني لاندي نیول کیدل په یوه، دوه یا دري کسیزه ځوکي به پښتون او تاجک، هزاره او ازبک، حتي اهل هنود یو ځاي کښیناستل او په بله ځوکي به ترکمن، نورستاني او پشه یي ددوي چپر کټونه به خوا په خوا ایښي وو. د دوي ترمنځ هیڅ ډول نژادي، ژبني قومي او مذهبي تبعیض نه محسوسیده، د دوي په منځ کي عسکري رفاقت، مسلکي دوستي او وطنولي به د کلکي وروروليی ترحده رسیدله، دا ځکه چي دوي به په یوه ټاکلي دوره او په یو کلکتیف کي ژوند کاوه، د دوي اړیکي دزده کړو او وظیفي په مودي پوري منحصري نه وي، بلکي د دوي ترمنځ دغو شریفانه مناسباتو همیشني بڼه در لوده او هیڅ وخت یي یوبل نه هیرول او کله کله چي له کلونو کلونو وروسته د عسکري د دوري انديوال د تحصلي دوري همصنفي او یا د وظیفي د محل ملګري یوبل ووینی نو په ډیر مخلصانه ډول یي په غیږه کي نیسي او دزیاتي خوشحالي احساس کوي د دوي ترمنځ دغه یووالي او وروګلوي نه یوازي د دوي په منځ کي بلکي د دوي په کورنیو کي هم ریښي ځغلولي او تولنیز بعدونه یي پیدا کړي دي د دي په خواکي د دوي وظیفي موخي هم په بشپړه توګه سره ګډي وي. د دوي ملي مشخصات او وظیفوي رسالت د هیواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي حاکمیت او له حق خود ارادیت څخه صادقانه دفاع او ساتنه وه. له عسکري خدمت څخه تیښته د ملي شرم خبره او په وظیفه کي خیانت د کورنۍ د پیغور خبره وه. هوکي د دي ویاړلو ملي دندو د اجراکولو په لاره کي دوي هیڅ ډول شخصي او انفرادي ګټو ته ترجیح نه ورکوله، ځکه چي د ملي پوځ د منسوبانو لوي افتخار په دي کي پروت دي. چي دوي د ملي ګټو او ملي پت ډاډمن ساتندویان دي. حتي دوي ته دغه شتمني یو اسلامي امانت دي او خیانت یي نه بخښل کیدونکي جرم دي. د ملي پوځ دا ملي مشخصات او پوځی صفتونه دي چي د یو ډاډمن ملي او دولتي ځواک په توګه یي د ټول ملت په زړه کي خاص ځاي نیولي، د سولي او امنیت تامینیدل ددوي دنه ستړي کیدونکو کارنامو او نه هیریدونکو قربانیو محصول شمیرل کیږي. د وسله وال پوځ هرمنسوب د هیواد د ملي حیثیت، وقار او ځواکمني ممثل دي او د هیواد هر سرتیري او افسر د هیواد د خلکو په واقعي ملاتړ د دي جوګه کیدای شي چي په ټول هیواد کي د سولي په اړه د پراخو پرګنو سپیڅلي آرمانونه سرته ورسوي یعني په هیواد کي د سولي او ډاډمن امنیت فضا خپره او د جګړو نا خوالو او غمیزو ته د پاي ټکي کیږدي، نو هر وطنوال ته په کاردي چي پرخپلو قهرمانو ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو وویاړي او د دوي د تاریخي مکلفیتونو په سرته رسولو کي ورسره صادقانه ملاتړ وکړي او له خپلو میرنیو اتلو او سرښندونکو امنیتي او دفاعي ځواکونو سره د پوره همغږي او مرستي د لوړي روحیي د پاللو له مخي د وطن او سولي دښمنان پرګوندو کړي، د افغانستان د خلکو پرضد یي د خپلو بشري فجایعو پرسختي جزا ورسوي او له خاورو سره یي خاوري کړي.

رازقي نړیوال

# د ملي قوتونو پیاوړتیا د ملي ستراتیژۍ په توګه

د آریانا په ستري سیمي کي د سیاسي جغرافیا له مخي د افغانستان جیوپولتیکي موقعیت داسي واقع شوي، چي پیړی پیړی د نړی د زورواکانو او امپراطورانو د حرص(بدڅولي) او تمي سپیني سترګي ورته اوښتي وي اودي، چي له همدي لاري او هم د افغانستان د ښکیلاک او ذبیښاک له مخي خپل جیوایکانومیک او جیوستراتیژیک اهداف وټاکي او سوقیات وکړي.

خپلو هدفونو(موخو) ته ګرځندي او بریالي ورسیږي، نو خامخا به افغانستان تریښو لاندي کوي او هم به ځیني چاروکي د زور، اجبار پربنسټ د تطمیع یا فشار، توهین، تعذیب(سیاسي اهانت الزامیت او زجر) له مخي دیته اړباسي ترڅو خپل تور، شوم او د نه منلو توکي ورباندي ومني.

خو په ۲۰ مه او ۲۱مه پیړی کي د دغه چارو او الزامیتونورنګ پیکه شونو د سیاسي دریځونو او ناخوالو د تپلو میتودولوژي هم تویپر وموند، دا دي په دي ۴۰ یا ۵۰ کلونو کي د نیابتي جګړو prxy war پییر راغی او زبر ځواکونه پخپله په جګړو کي برخه نه اخلي او یا ډیره لږه ونډه لري او سخت ابزار او پروپاګندي ونډه یي زیاته وي. د دریمي نړی هیوادونه ښکیل کړی او بیا دغه بیچاره ولسونه د اور په لمبو کي سوځي او کړیږي.

کوم ولسونه چي ملي شخصیتونه ولري او په پوره فهم، درایت، پوهي او انرژي سره چاري پرمخ بوزي او تر ټولو رومبي خپل ملي قوتونه، چي د ولسونو او هیوادونو لوړه شمله او ویاړ جوړوي، هغه وساتي وروزي وپالي او سیاسي حمایت یي وکړي نو هغوي بیا بریالي اوغښتلي وي.

نو دا دی اوسمهال چي زمونږ پر عزتمند افغان ولس او ګران هیواد او زمونږ میرني باتور ملي پوځ دي قرباني ته چمتو دي او باالفعل او باالقوه د بهرنیو له خوا دي اور ګدي جګړي ته درومي او سرونه ښندي، چي د ملي اردو دغي مقدسي او ویاړلي اردو، د ملي امنیت پاک لمنو بچیانو او د ملي پولیسو عزتمندو خدمتګارانو دغه د روند پیتي پر اوږه نه، بلکي پرخپله سینه اخیستي دي، دا زمونږ له پاره د پوره ویاړ افتخار لوړاوي او پت او ملي ابرو خوږه خبره ده. نو همدا لامل دي، چي د ملي قوتونو پیاوړتیا، غښتلتیا، ځواکمنتیا سمبالښت او سامانه د دولت د لوړو دندو څخه ده چي د ملي ستراتیژي په لوي پلان او اقدام کي ستره برخه لري او د ملي قوتونو د بریالي کیدو او غښتلتیا او پیاوړتیا له پاره جلا او ځانګړي نقشه او میتود یي کښلي او ورو، ورو دعمل ډګر ته راوزي.



د ملي قوتونو لیکي باید تقویه شي، یاني په ټوله کي باید شمار یي زیات شي په نوو عصري او د زمان مقتضا له مخي سمبال شي، په تیره بیا هوایي پوځ او کشفي الوتکي هم ولرو چي لرویي. کشفي استخباراتي قوتونه مو لا زیات فعال دي او د چارو کوردیناسیون (همغږي) زیاته وي، مسلکي او هم تجربه لرونکي کادرونه ولرو، ښایي چي تجربه لرونکي کادرونه یو ځل بیا حاضر شي او د ملي کادرونو په نوم د ملي قوتونو تر څنګ ولاړوي. په دي توګه به د ملي قوتونو د پیاوړتیا(قوت) د زیاتوالي ملي ستراتیژي به ښه پلي او تطبیق شي. دا به لویه لاسته راوړنه او بریالیتوب وي.

د ملي قوتونو د لیکو د بشپړتیا او بریالیتوب په هیله

عبدالهادي قریشي

# په افغانستان کې ټول مهم ملي مسايل د جرګو او مشورو له لارې حل ګيږي

## ځکه افغانستان د جرګو او مشورو هيواد دی

د افغانستان په عنعنوي او سنتي ټولنه کي هر ډول قومي شخړي، جنګونه، مهم ملي مسايل او يا دا ډول ستونزي او مشکلات رامنځ ته شوي نو د دي هيواد مسلمانو او باديانته خلکو په خپلو کي جرګي او مشوري کړيدي او په پوره همغيږۍ او بي طرفۍ يي ملي مسايل د ملي اسلامي ارزښتونو په رڼا کي حل او فصل کړيدي.

که څه هم دا ډول ملي لوي مشورتي جرګه د افغانستان په معاصر تاريخ کي په هر ډول سختو شرايطو کي رامنځ ته شوي خو تر ټولو لومړني مشورتي جرګه يي د لوي کندهار په مانچه کي د ميرويس خان نيکه ترقيادت او مشرۍ لاندي په ۱۷۰۹ ع کال کي او په ۱۸۶۵ ع کي د امير شيرعلي خان د سلطنت په دوران کي او په ۱۹۲۲ه.ش کال کي د شاه امان الله خان له خوا د لوی ننګرهار د جلال آباد په ښار او په ۱۳۸۱ ه.ش کال کي د افغانستان د موقت حکومت د جوړيدو او د اساسي قانون د توشيح او تصويب په منظور جوړي شويدي او روانو ستونزو او ننګونو ته يي د حل لاري موندلي دي.

دلته زمونږ اساسي خبره او د بحث موضوع په ملي مشورتي جرګي ده، چي افغان حکومت غواړي د هيواد د روان بحران او د سولي د تامين په منظور د هيواد د ټولو اقشارو د مشرانو او با نفوذه شخصيتونو سره په ملي مشورو سره رواني غميزي ته د حل لار پيدا کړي.

د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئيس محمد اشرف غني د همدي کال د سلواغي په ۲۳ مه په همدي اړوند په هغه اختتاميه غونډه کي ګډون وکړ چي د ملي مشورتي جرګي په اړوند جوړه شوي وه، په پيل کي د جمهور رئيس سلاکار ضياالحق امرخيل خبري وکړي او ويي ويل:



ټولي هغه ډلي او خلک چي د سولي په برخه کي هڅي او کوښښ کوي بايد د افغان حکومت په همغږي او مشوري مخ ته لاړ شی، ځکه دا کار د ملي يووالي او ملي وحدت ښکارندوي کوي او ددي لاري به يوه لويه اجماع ته هم نژدي شو.

بيا دهيواد جمهور رييس محمد اشرف غني د ملي مشورتي جرګي په اهميت ټينګار وکړ او ويي ويل:

ستاسو بحثونه د نني افغانستان استازيتوب کوي خو زمونږ د ملت هغه تصوير چي د افغانستان څخه بهر ليدل کيږي د پرون تصوير دي چي زمونږ د ملت د واقعيتونو سره توپير لري.

هغه د سولي په ملي پروسه کي د مشورو رول ته هم اشاره وکړه او زياته يي کړه: افغانستان د جرګو او مشورو هيواد دي او مونږ به په مشورو مخ ته ځو، ترو څو يوي باعزته سولي ته چي د افغانستان د خلکو اساسي غوښتنه ده ورسيږو. د هيواد جمهور رييس محمد اشرف غني دا هم وويل: مونږ پوهيږو چي په افغانستان کي د سولي په اړه واحد، واضح او جامع نظر وجود لري، چي انشأالله وروستي هدف ته به نژدي کيږو چي هغه يو با تدبيره سوله ده.

مونږ وليدل چي په افغانستان کي د سولي په اړوند ډيري نړيوالي غونډي او ناستي وشوي، خو له بده مرغه د هيواد د داخلي او بهيرنيو دښمنانو له خوايي په مخ خنډونه او موانع رامنځ ته کيږي او د سولي هر ډول هڅي او کوښښو ته د ناکامۍ او سبوتاژ سره مخامخ کوي، خو د افغانستان مسلمان او دين دوسته خلک او افغان حکومت اوس په دي ښه پوهيږي چی افغانستان کي درواني غميزي د حل کليد يوازي او يوازي د ملي مشورتي جرګو له لاري تامينيداي شي ځکه افغانستان په تاريخي لحاظ د جرګو او مشورو هيواد دي.




## سربازان دلیر وطن

گام پاکت، رهنمای سینه ام
خاک پایت، توتیای دیده ام
قامتی چون سرو داری نازنین
آیتی از صبر داری نازنین
بیرقی با جان تو در اهتزاز
پرچمی با عزم تو در اهتزاز
فخر میهن، جان فدای درک تو
نازنینا، جان فدای رزم تو
روح ایمان در دلت پاینده باد
نور جنت در دلت تابنده باد
با شهیدان، بیعت دل بسته ای
با دلیران، عهد اعلان بسته ای
قلعه های شوم شب بشکسته ای
نخوت جور زمان بشکسته ای
در محبت، پیشته ات دلدادگی
در فضیلت، شیوه ات افتادگی
بهره ای وافر، زایمان برده ای
در مروت با اسیران شهره ای
من بنازم، قامت رعنایی ات
آن صفا و آن جلای گرمی ات
کینه در سینه نداری نازنین
بی ریا و ساده گویم، آفرین
ای جلالت جاودان در خاطرم
ای صفایت جاودان در باطنم
افتخارات گفته های مقتدا
مقتدایی معنوی در سینه ها
این همه دلدادگی شایسته ات
این همه دل بردگی زیبنده ات

## د پسرلی زیری

راغی پسرلی بیا به وطن گل و گلزار شي
بیا به په وطن کې د بلبلو چغهار شي
دوه خوارړه یاران به بیا طواف د دې گلشن کوي
جوړ به په وربل باندې د سرو گلو قطار شي
ډکه به لمنه د صحرا له زیړو گلو وي
بیا به شنه شالونه غرو رغو باندې اوار شي
کډې به باریږي د اوښانو غرغرې به وي
رنگ په رنگ تیکري به بیا ښکاره په دغه لار شي
وایي به شپانه د شوق سندرې بیا د غرو په سر
وچ سپیره ډاگونه به رنگین او لاله زار شي
جوړ به په هر ځای کې بیا د لوبو میدانونه شي
بیا به له مستۍ نه شر و شور جگ د آبشار شي
ښې خوږې سندرې به له شوقه لوی واړه وایي
پاڼې به رپیږي غبر به پورته د چنار شي
ښکلي به په گلو پسې ځي د باغ په لوري بیا
ناز به د خوبانو تول په برخه د ملیارشي
زړوکې به گرمي او حرارت پیدا د مینې شي
څاڅکي د خولو به طراوت د مخ د یار شي
تاک به شي سر سبز نوی کیف به بیا پیدا کا ندي
ځوړند به سرونه دغنچو بیا په خمار شي
یو ځای به بلبله شي که خدای کا ندي له گل سره
ښه وړمه د گلو به پخپله ښه ریبار شي

استاد گل پاچا الفت

## نوی بهار

ډګروال اسدالله منګل

نوی کال نوی بهار دی
نوې نوې هنګامه ده
د کابل په شاخواکې
دا د خلکو څه میله ده
خلک ګرځي په باغو کې
هرخوا جوړه ننداره ده
خوشحالي موشوه په برخه
چې د سولې آوازه ده
واورئ ای زما یارانو!
دا زما د زړه قصه ده
ژوندون سخت را تمامیږی
مګر څه زما چاره ده
تول پرځان زه تیرومه
چې هیواد کې مو جګړه ده
ورته ګورئ افغانانو
په وطن کې سره لمبه ده
دا وطن زمونږ ګډ کور دی
د نیکونو هدیره ده
خدایه دا اور خپله مړکړې
چې هم ستا په وس پوره ده
تابه جوړ کړو ای وطنه موږ په خپله
دا مو ژمنه ښه پخه ده
پخپل وینو یې ساتمه
دا مو عهد دا مو وعده ده
زر تر زر دې جوړومه
زمونږ هیله، تلوسه ده
تل آباد اوسې وطنه
(اسد) خدای ته دا اسره ده

## گل تازه

نوبهار آمد و گل سرزده، چون عارض یار
ای گل تازه، مبارک به تو این تازه بهار
با نگاری چو گل تازه، روان شو به چمن
که چمن شد ز گل تازه، چو رخسار نگار
لاله‌وش باده به گلزار بزن با دلبر
کز گل و لاله بود چون رخ دلبر گلزار
زلف سنبل، شده از باد بهاری درهم
چشم نرگس، شده از خواب زمستان بیدار

## افغان سرتیری

ساتنه د هیواد کی تیر له سر یمه زه
د هر دښمن په وړاندی یې سپر یمه زه
دا لوست په ماشومتوب کې ماته مور او پلار راکړی
همداسی روزل شوی یو عسکر یمه زه
ساتنه د هیواد کې تیر له سر یمه زه
هېواد می ننګ ناموس دی په همدغه مینه هست یم
استازی د جهاد پروت په سنګر یمه زه
ساتنه د هېواد کې تیر له سر یمه زه
که څوک می دا هیواد ته څه د بدو نظر وکړي
دا سترګی به یې ړندی کړم داسی نر یمه زه
ساتنه د هېواد کې تیر له سر یمه زه
تیاری او جهالت نور له هېواده ختمه ومه
هوسا ژوندون له پاره روڼ سحر یمه زه
ساتنه د هېواد کی تیر له سر یمه زه
ای ګرانه هېوادواله راشه کلکه غاړه راکړه
ستا ورور یم که سرتیری یا افسر یمه زه
ساتنه د هیواد کی تیر له سر یمه زه
راځه چې اوس په ګډه د هیواد ساتنه وکړو
نور دلته په خلاف د شور او شر یمه زه
ساتنه د هېواد کې تیر له سر یمه زه
ترڅو به دا هېواد کې ویر ماتم واړه کوربه وي
د ټولو بدمرغیو ټولوونکې د ټغر یمه زه
ساتنه د هېواد کې تیر له سر یمه زه
په پوځ کې ښځینه پوځیانی هم همداسی وایي
د چا یم خور او لور د چا همسر یمه زه
ساتنه د هېواد کې تیر له سر یمه زه
سوغات د جنګ جګړو مو د دردونو دوانه ده
دا سوله یې درمل ده پری خبر یمه زه
ساتنه د هیواد کې تیر له سر یمه زه
درویشه نړیوالو ته په لوړ آواز دا وایه
نور سوله کې ژوندون غواړم بشر یمه زه
ساتنه د هېواد کې تیر له سر یمه زه

شاه محمود درویش

## پسرلی

محمدالله شیرزی

موسم بدل شو پسرلی شو، باران راغی
غوټۍ ګلاب شوه یار مې یاد شو، ارمان راغی
ته ویده وې ژمی سوړ و، شپې اوږدې وې
زما پرې پام و خو ناکام و، تاوان راغی
کلی ړنګ و چنار نه و ګودر وران و
د یېزدان د ښکلاګانو، تابان راغی
د مرغانو خولو کې پاڼې نوې زیرې
آوازې شولې د سولې کاروان راغی
د شېرزي د پسرلي تازه موسم کې
نابېره بې خبره خپګان راغی

## مینه

اروانباد رحمان بابا

بې لـــه مینې مـــې روزګار نـــــهٔ شي قنا یم
کهٔ په مینه کښې مــې سر ځــي پــــرې رضا یم
یا به بوي کـــــړم د بهــــار زیــــړي ګلـــــونه
یا به مړ په ګلو پـــروت لکـــــه بــــــورا یم
پـــــرهرونه مـــې زولـــن د زړهٔ خــــوږیـــږي
پـــــې ویشتلـــې یـــې د زړهٔ په سر رســـا یم
زهٔ رحمـــــان چـــې سرګردان په جهان ګــرځم
لـــه بـــې دردو مــرور لــــه یـــار پخلا یم

## بوی بهار

بیـــا کـــه بـــار دگـــر گـــل بـــه بـــار می‌آیـــد
بیـــار بـــاده کـــه بـــوی بهـــار می‌آیـــد
هـــزار غـــم ز تـــو دارم بـــه دل، بیـــا ای گـــل
کـــه گـــل شـــگفته و بانـــگ هـــزار می‌آیـــد
طرب میانـــه خـــوش نیســـت بـــا منـــش چـــه کنـــم
خوشـــا غـــم تـــو کـــه بـــا مـــا کنـــار می‌آیـــد
نه من ز داغ تو ای گل بـــه خـــون نشســـتم و بـــس
کـــه لالـــه هـــم بـــه چمـــن داغـــدار می‌آیـــد
دل چـــو غنچـــه مـــن نشـــگفد بـــه بـــوی بهـــار
بهـــار مـــن بـــود آن گـــه کـــه یـــار می‌آیـــد
نســـیم زلـــف تـــو تـــا نگـــذرد بـــه گلشـــن دل
کجـــا نهـــال امیـــدم بـــه بـــار می‌آیـــد
بـــدین امیـــد شـــد اشـــکم روان ز چشـــمه چشـــم
کـــه ســـرو مـــن بـــه لـــب جویبـــار می‌آیـــد
مگـــر ز پیـــک پرســـتو پیـــام او پرســـم
وگرنـــه کیســـت کـــه از آن دیـــار می‌آیـــد
دلـــم بـــه بـــاده و گـــل وا نمی‌شـــود، چـــه کنـــم
کـــه بـــی تـــو بـــاده و گـــل نـــاگوار می‌آیـــد
بهـــار ســـایه تـــویی ای بنفشـــه مـــو بـــاز آی
کـــه گـــل بـــه دیـــده مـــن بـــی تـــو خـــار می‌آیـــد

هوشنگ ابتهاج

## حب وطن

این بوی بهار است کـــه از صـــحن چمـــن خاســـت
یا نکهت مشک است کـــز آهـــوی ختـــن خاســـت
انفـــاس بهشـــت اســـت کـــه آیـــد بـــه مشـــامم
یا بوی اویس اســـت کـــه از ســـوی قـــرن خاســـت
ایـــن ســـرو کـــدام اســـت کـــه در بـــاغ روان شـــد
وین مرغ چه نام است که از طرف چمـــن خاســـت
بشـــنو ســـخنی راســـت کـــه امـــروز در آفـــاق
هر فتنه که هســـت از قـــد آن ســـیم بـــدن خاســـت
ســـــودای دل ســـــوخته لالـــــه ســـــیراب
در فصـــل بهـــار از دم مشـــکین ســـمن خاســـت
تـــا چیـــن ســـر زلـــف بتـــان شـــد وطـــن دل
عـــزم ســـفرش از گـــذر حـــب وطـــن خاســـت
آن فتنـــه کـــه چـــون آهـــوی وحشـــی رمـــد از مـــن
گـــویی ز پـــی صـــید دل خســـته مـــن خاســـت
هـــر چنـــد کـــه در شـــهر دل تنـــگ فـــراخ اســـت
دل تنگـــی ام از دوری آن تنـــگ دهـــن خاســـت
عهـــدی اســـت کـــه آشـــفتگی خـــاطر خواجـــو
از زلـــف سراســـیمه آن عهدشـــکن خاســـت

خواجوی

## سلام د مینې

خدایـــه د چـــا پـــه در بـــه وکړمـــه ســـلام د مینـــې
پـــه دې وطـــن کښـــې هیڅـــوک نـــه منـــي پیغـــام د مینـــې
پـــه ســـپینه ورځ مـــې د ګلانـــو هـــار ســـتا غـــاړې تـــه وور
خـــو چـــې زهٔ تـــا تـــه رسېدمه شـــو ماښـــام د مینـــې
هـــم دې قاتـــل د محبـــت هـــم یـــې پـــه زړهٔ کښـــې مینـــه؟
دغـــه چـــې خلـــکو نـــړوي پـــه احتـــرام د مینـــې
راځـــئ چـــې تـــول نیتونـــه وتـــړو پـــه نـــوم د مینـــې
خـــدای مهربـــان دی چـــرې را بـــه شـــي امـــام د مینـــې
بـــس چـــې ځـــواب ســـتا د کـــوڅې شـــو هـــا وروکـــی رېبـــار
د فـــروتن پـــه هغـــه ورځ و احتـــرام د مینـــې

غوث الدین فروتن



# نوی کال؛ مسؤلیت، فرصت او عبرت

پوهیالی جګړن عبدالقاهر وقار

سریزه

د کائناتو خالق د انسانانو د پیدایښت حکمت او فلسفه عبادت ښودلی او د ژوند او مرګ د خلقت حکمت او فلسفه یې ازمایښت بیان کړی دی، په دې معنا چې څوک په دوی کې له دوی څخه د ژوند په هره برخه کې ښه عمل کوي، د عمل لپاره یې ډول ډول فرصتونه ورکړي، د تیر کال په تیریدو مو عمرونه کم او اجلونه را نژدې شول، عمل یې خلاص او عملنامې یې ډکې شوې، هرڅه چې مو کړي وي هغه مو وکړل، دا دی نوی کال د نویو فرصتونو سره راغی، خپلو قبرونو او تر هغه ور وړاندې معاد (له قبرونو څخه د بېرته را پورته کېدلو ورځې) ته نور هم ور نژدې شو. دنیا د فنا ځای دی نه د بقا، هوښیار او عاقل هغه څوک دی چې په راتلونکې کې تر پښېمانۍ مخکې د خپل ژوند هره شېبه د ځان لپاره فرصت او غنیمت وګڼي، د فنا او بقا ژوند په پرتلیزه توګه و پیژني، د هر یو لپاره د هغه د ارزښت او قیمت په تناسب کار وکړي، ما هم د ژوند همدغو مشکلاتو ته په کتو، څو کرښې سره ترتیب کړې دي.

د کال، میاشت او وخت پیژندنه او ارزښت: کال، فصلونه، میاشتې او ورځې د هغه مشخصو او معلومو وختونو نومونه دی چې د شمسي نظام د ګردش په نتیجه کې را مینځ ته کېږي.( نمونه) وخت د زماني یوې برخې ته ویل کېږي چې اطلاق یې په کم او زیات دواړو باندې( د ثانیې نه تر کلونو پورې) کېږي.(عمید) وخت د ظرف(لوښي) حیثیت لري چې د انسانانو وینا وې، کړنې، هڅې او لاسته راوړنې پکې تر سره کېږي. الله(ج) د قرآنکریم په ډېرو سورتونو کې لکه د فجر، شمس، لیل، ضحی، د وخت یادونه کړې ده، تر دې چې مکمل سورت یې د عصر(وخت) په نامه نومولی دی. نوموړې یادونه په خپله د وخت پر ارزښت دلالت کوي، همدارنګه په نبوي احادیثو کې هم د وخت اهمیت ته ډیره پاملرنه شوی ده، رسول الله(ص) فرمایلي دي، ژباړه: دوه نعمتونه دي چې په هکله یې ډېر خلک غولېدلي دي، چې یو یې صحت او بل فراغت دی.

نوی کال او د وخت مسؤلیت: نوی کال په حقیقت کې زموږ د ژوند نوی فرصت او د څښتن تعالی لوی نعمت دی، چې موږ ته یې امانت راکړی دی، د هرې شېبې او ثانیې په هکله یې مسؤل یو، حساب یې راسره کوي. الله(ج) فرمایي: ژباړه: نژدې شو خلکو ته حساب د دوي او دوی په غفلت کې مخ اړونکي دي.»(۱/انبیاء/۱) الله(ج) به د قیامت په ورځ د کفارو د چیغو او غوښتنو په ځواب کې د دوی د عمرونو پوښتنه وکړي: ژباړه: آیا موږ تاسو ته دومره عمر نه ؤ درکړی چې عبرت اخیستی وای پکې هغه چا چې عبرت یې اخیسته.»(۱/فاطر/۳۷)

الله(ج) خپلو بنده ګانو ته خبر ورکوي چې د مرګ له راتګ څخه مخکې خپل مسؤلیت ته پام وکړئ اصلاح شئ او خپل رب مو هیر نه کړئ بیا به پښیمانه شئ ، بېرته به دنیا ته د راتګ غوښتنه کوئ مګرهیڅ ګټه به درته نه رسوي او نه به دنیا ته بیا راشئ. الله(ج) فرمایي: ژباړه: اې مومنانو ستاسې مالونه او اولادونه دې تاسې د الله تعالی له ذکر څخه نه غافله کوي، خو که چا داسې وکړل، نو همدوی زیانمن دي، او له هغه رزق څخه خیرات او انفاق(ورکړه) وکړئ، کوم چې موږ درکړی دی، مخکې تر دې چې په تاسې کې یوه ته مرګ راشي، نو وبه وایي: ای زما ربه ما ته لږ وخت او عمر راکړه، چې ډېر خیراتونه وکړم، او ځان په ښو خلکو کې حساب کړم، او کله چې د یو چا د مرګ نېټه را ورسېږي، نو الله تعالی به هیڅکله د هغه مرګ له خپلې نېټې څخه ونه ځنډوي، او الله ستاسې په ټولو کارونو پوره خبر دی.»(۱/ المنافقون/ ۱۱-۹). په دې هکله خیرالبشر(ص) فرمایلی دي ژباړه: د قیامت په ورځ به بنده د خپل رب په وړاندې تر هغې ولاړ وي چې د څلورو څیزونو پوښتنه ورځنې نه وي شوې؛ یو چې عمر یې په څه کې تېر کړی دی؟ دوهم ځواني یې په څه کې مصرف کړې، درېیم پر علم یې څومره عمل کړی دی څلورم، د شتمنۍ یې، چې له کومې لارې یې پیداکړې او په څه کې یې لګولې ده.»(۲۴۱۶ترمذی)

نوی کال فرصت او عبرت: د نوي کال وخت او زمان زموږ د کړنو لپاره نوی فرصت راکوي، نوموړې کړنې د وخت او زماني په اعتبار په درې ډوله دي : ۱- د ماضي (تیرې زمانې) کړنې او ویناوې، ۲- د مستقبل (آینده زمانې) کړنې او ویناوې ۳- د حال (موجوده زمانې) کړنې او ویناوې دا ځکه چې زمانه په درې ډوله ده: ماضي،حال او مستقبل.(میزان الصرف) تیره زمانه زموږ د کړنو په اعتبار که هر ډول وه لاړه تیره شوه. راتلونکې زمانه هم د مغیباتو(د غیبي امورو) له جملې څخه ده، معلومه نه ده چې تر کومه به پکې ژوندي یو. الله (ج) یې په هکله داسې فرمایي: ژباړه، ((او یو نفس په دې خبر نه دی، چې سبا به څه تر سره کړي، او انسان په دې هم نه دی خبر، چې په کومه ځمکه کې به مړ شي.» (۱/ لقمان/۳۴) مګر د حال زمانه د کړنو لپاره غوره فرصت دی، داسې فرصت چې راتلونکی ژوند له همدی څخه پیلیږي. په لنډه ډول سره به ووایو، که روان ژوند د پلان سره سم جوړ کړو نو را روان ژوند به مو هم جوړکړی وي او که له موجوده ژوند څخه بې پروا شو، راتلونکی دنیوي

او اخروي ژوند به مو هم وران کړی وي.

په حقیقت کې موجوده زمانه له تیرې زمانې څخه د عبرت اخیستلو، په حاضر وخت کې د کار او راتلونکي لپاره د ښه نیت او پلان د فرصت زمانه ده او د پسرلي او منې موسمونه یې امتیازي پیغامونه لري چې موږ به په همدې خبرې کې لږ لږ تم شو.

الف:- د نوي کال د حاضر وخت فرصت د تیر وخت عبرت: تیر وختونه چې د عملونو او پیښو مجموعه ده، موږ او نورو خلکو یې په هره لحظه کې ډیرې کړنې ترسره کړیې دي، ډیرې پیښې او کیسې پکې واقع شویې، د قرآنکریم خورا لویه برخه د تیرو خلکو او امتونو قصص (کیسو) او امثال (مثالونو) ته ځانګړې شوې ده، ډیر پندونه او عبرتونه لري، باید هر اړخیزه کتنه ورته وکړو او عبرت ترینه واخلو، ترڅو په راتلونکي کې ورته منفي کړنې تکرار نه کړو او نه د تیرو بدو خلکو برخلیک سره مخ شو، که کوم ناوړه عملونه مو تر سره کړي وي، پرې پښېماني او بښنه وغواړو. الله(ج) فرمایلي دي ژباړه: یقیناً د دوی په کیسو کې د عقلمندو لپاره عبرتونه دي.» (۱/یوسف/۱۱۱) په بل ځای کې الله (ج) موږ ته د عبرت اخیستلو لپاره د سیاحت امر کوي، فرمایي: ژباړه: یقیناً ستاسې څخه مخکې ډېرې پېښې تېرې شوې دي، نو تاسې د ځمکې په مخ وګرځئ او وګورئ چې د دروغ ګڼونکو انجام څنګه شو؟.»(۱/ آل عمران/۱۳۷) همدارنګه رسول الله(ص) فرمایلي دي: ژباړه: مؤمن له یوې سوړې څخه دوه ځله نه چیچل کیږي.» (مشکوة۴۲۹) اوعربی مقوله ده چې وایي: ژباړه: د پخوانیو خلکو مثالونه د روستنیو لپاره نصیحت دی.»(مفید)

ب: - د نوي کال د حاضر وخت فرصت د روان او راتلونکي وخت بدلون: د نوي کال موجوده زمانه، د روان او راتلونکي دنیوي او اخروي ژوند د مثبت بدلون د فرصت زمانه ده باید په منظمه توګه د پلان او مهال ویش په لرلو سره په پرتلیزه توګه په نیکو کړنو ډک او د بدو او نا مطلوبو کارونو څخه وژغورل شي، او راتلونکي خطرونه پکې مدیریت شي.الله (ج) فرمایلي دي: ژباړه: الله هغه ذات دی چې مرګ او ژوند یې پیدا کړی ترڅو وآزمایي تاسو چې څوک په تاسو کې (د هرچانه) په عمل کې ډیر غوره دي.»(۱/الملک/۲) نوموړي آیت ته په کتو، د الله(ج) په وړاندې مطلوب عملونه هغه دي چې کیفیت یې ښه وي که څه هم کم وي. (معارف) الله(ج) د عصر په سورت کې انسانان تاواني ګڼلي دي، البته د تاوان څخه د خلاصون لپاره یې څلورو کارونو سرته رسول حتمي ګرځولي: ژباړه: زما دې په زمانه قسم وي چې یقیناً انسان په تاوان کې دی، مګر هغه کسان نه، چې ایمان یې را وړی وي ، نیک عمل یې کړی وي، په حق او په صبر یې ټینګار کړی وي.» (۱/عصرسورت) همدارنګه ، رسول الله (ص) د پنځو فرصتونو یادونه کړې ده چې باید ترینه کار واخیستل شي او غفلت پکې ونه شي: ژباړه، تر پنځو شیانو مخکې پنځه شیان غنیمت وګڼه: خپله ځواني تر زوړوالي مخکې، روغ صحت تر مریضۍ مخکې، شتمني تر فقیرۍ مخکې، فراغت تر مصروفیت مخکې، ژوند تر مرګ مخکې. (أخرجه الحاکم في المستدرك) هغه(ص) دا هم فرمایلي دي: ژباړه: له نا مناسب کارونو څخه ځان ساتل له ښایسته اسلام څخه دی.» (حسن رواه الترمذي)

ج:- د پسرلي د موسم عبرت: د پسرلي موسم، طبیعي ښکلا او ښایست د کتونکي پام ځانته را اړوي، او تر اغېز لاندې یې راولي. مګر د کایناتو خالق زموږ پام د ونو او بوټو د بیا راټوکېدو کیفیت ته را اړوي چې د بعث بعد الموت( پس له مرګ څخه بیا ژوندون) په هکله ترینه عبرت واخلو، دومره اغیزمن باید نشو چې اخروي او تلپاتي ژوند وربانديې هیر کړو.الله(ج) فرمایي: ژباړه: د الله د رحمت آثارو ته وګوره چې څنګه یې ځمکه پس دهغې له مرګ څخه ژوندۍ کړه، نو یقیناً همدغه ذات خامخا مړي هم را ژوندي کوي، او هغه په هرشي قادر دی.»( روم /۵۰)

د:- د منې د موسم عبرت: د منې موسم چې د ځمکې ونې او بوټي د زوال په لور حرکت کوي، پاڼې یې ژیړیږي او رژیږي. مګر څښتن تعالی ددې منظر په هکله د انسانانو پام د دنیوي ژوند زوال او فنا ته را اړوي.فرمایي: ژباړه: او بیان کړه دوي ته( وښایه) دوی ته د دنیا د ژوندون مثال چې *موږ له آسمان څخه اوبه و اورولې نو د ځمکې بزغلي ښه زرغون شول او سبا هماغه شینلي بوس شوچې چې بادونه یې په هوا وړي او الله پاک پر هرڅه باندې قادر دی (کهف/۴۵

پایله :له پورته مطلب څخه معلومه شوه چې د دنیا ژوند که هدفمند وي نو ښه او که هدفمنند نه وي نو هسې وخت تېرول دي، پر همدې اړه صوفي شاعر رحمان بابا هم داسې ویلي دي؛ اول د هدفمند ژوند لپاره ، "ښه ده ښه ده دا دنیا = چې توښه ده د عقبی" او که بې هدفه ژوند وي نو بیا داسې ویل ورته لري، "دا دنیا پر احمقانو ده ودانه + دا نا نه کا پر دنیا باندې غرض" د دنیا مکافات او مجازات د آخرت د هغو په پرتله هیڅ د پرتلې وړ نه دي. نو راځئ چې د نوي کال فرصتونه د یو پلان په لرلو سره په غوره وېناوو او نیکو عملونو ښایسته کړو، د وخت او زمان منزلت وپیژنو هرکار په خپل وخت سره په مقایسوي شکل د هرچانه ښه ترسره کړو چې د دنیا او آخرت د کامیابی زریعه مو وګرځي.

مأخذونه:

قرآنکریم

البخاری، محمد بن اسماعیل، صحیح البخار، کتاب الدیات،دار ابن کثیر، دمشق - بیروت، ط۱، ت ۲۰۰۲. الترمذی، ابوعیسی محمدبن عیسی، سنن الترمذي، پېښاور، پاکستان ، حقانیه مکتبه.

د قرآنکریم معنی او تفسیر، مشهور په کابلي تفسیر، چاپ، د حرمینو شریفینو د خادم ملک فهد په امر مطبعه، رابطة العالم السلامي، مکه .

عثمانی، محمد شفیع، معارف القرآن، مترجم محمد یوسف حسین، شیخ الاسلام احمد جام، چاپ کال۱۳۸۸، هش. مکارم شیرازی، ناصر، تفسیر نمونه؛ تهران، دارالکتب الاسلامیه،چ۳۶، ۱۳۸۷هش

اعزاز علی، مفیدالطالبین.

# سحرګر

(ولسي کیسه)

و، نـه و، یـو سـړی و، خـدای ډېرشـته ورکړي وو، دا سړی ډېر زړه سوانده او سخي سړی و، هیڅکله بـه یې یوازې ډوډۍ نه خوړه، د دې سړي یو ځوی و چې پـه ده ډېرګـران و، یـو ماښام چې سړی له جوماته کورته راغی ګوري چې په کور کې یو میلمه هم نـه شته، د جمې شپه وه باران ورېده هوا ډېره یخه وه، سړي خپل ځوی ته وویل: ځویه زما خو یـواځې ډوډۍ نـه تیرېږي، لاړشـه د جومات ګوټ ته یوشل ناست دی راییوله چې لـه مونږسره ډوډۍ وخوري، هلک وچورلی تریو که، خو د پلار حکم یې و، روان شو د جومات ګوټ کې شل ناست وه، ورته یې وویل، راپه شاشه چې ځو، شل ورتـه وویل چیرتـه مې بیایې؟ هلک ورتـه وویل پلار مې وایي چې لـه مونږ سره ډوډۍ وخورې، شل ورتـه وویل زه په یو شرط لـه تا سره ځم، چې د ډوډۍ له خوړلو وروسته به مې بیرته راولې او که بیرته مې نه راولې، نوزه درسره نـه ځم.

هلک ورته وویل راځه ناکام دی بیرته بـه دې راولـم، شل یې پـه شاکه کورتـه یې راوسته ډوډۍ وخوړل شوه، شل وویل، مابیرتـه خپل ځـای تـه ورسوئ، سړي ورتـه وویـل شل سړی یې التـه بـه دې یخني وشي، دلته به اور درته بل کم ښه ګرمـه کوټـه کې بـه شپه وکې. شل وویل نه، ما الته په دې ځوان دا شرط ایښی و، چې بیرتـه بـه مې راولـې، هلـک مجبور شو شل یې بیا را پـه شاکه خپل ځـای تـه یـې راوسـتـه، شـل ورتـه وویـل: ووایـه ځوانه څه غواړې؟ هلک ورتـه وویل: ما لـه سحر وښایه، شل د یوه ګوډې خولـه پرانستله، هلک تـه یې وویل سر وردننـه کـه، هلـک چې سـر وردننـه کـه، شـل د ګـوډې خولـه وتړلـه او یـو سینـد تـه یې ګـوډی ورګـوزارکـه. مـه کـوه چې ګـوډی یوغـټ مـاهي ښـویه تیرکـه، دلتـه یـو مـاهیګر لګیـا دی جـال یـې اچـولی دی ماهیان نیسي، چې پـه دې کې دغـه غټ ماهي یې خدای پـه جال بندکه، ماهیګر ژر ژر ماهي له جاله خلاص که، وچې تـه یـې راویسـتـه، مـاهیګر مـاهي کورتـه راوړه، خپلـې ښـځې تـه یـې وویـل: ای ښځې! د دې ماهي ګېډه پـه احتیاط سره څیرې که، کیدی شي د دې ماهي پـه ګېډه کې څـه شـی وي، د مـاهیګر ښـځې پـه قـراره د مـاهي ګیـډه څیـرې کـړه، چې ګوري د مـاهي پـه ګیده کې یو ښایسته ماشوم هلـک پـروت دی، ژر ژر یـې خپل میره ته غږکړ، ای سړیه! راشـه د ماهي پـه ګېډه کې خوهلـک دی، سړی چې پـه منډه راغی ګوري یو ښایسته هلـک یې ښـځې پـه غیږ کـې نیـولی، سـړی ډېـر خوشاله شو، وې ویل، ای ښځې! زمونږ اولاد نـه ؤ، اوس مـونږ تـه خـدای پـاک ښایسـتـه زوی راکـه، ښـځه او میړه ښـه خوشاله شول، دواړه دهلک نه ګرد، ګرد تـاویږي، پام پې کیـي، عمر دی تیریږي، نـن یـوه او سبا بلـه، هلـک زلمـی شـو، مـاهیګر ورتـه پـه ښـارکې یـو دوکـان جوړکه، هلک د ورځې دوکانداري کیي او د شـپې کورتـه راځـې، ښـه سـات یـې تیـردی، ښـه ګټـه وټـه کیـې، مـاهیګر او ښځه یې هم ښه خوشاله د ي.

د ورځونـه یـوه ورځ ده، یـو سـوداګر دی چیرتـه روان دی، یـو بکـس ګـی شـان ورسره دی چې یوڅه قیمتي لعلونـه پکې دي، د دې هلـک دوکـان تـه راغی پـه دې هلـک یې سترګې خوږې شوې، دا هلـک ورتـه امـانتګر ښـکاره شـو، ورتـه یـې وویل: ځوانه دغه یو امانت زما درسره کیـده کـه، جونـد بـاقي ؤ، زه بیرتـه زر راستنیږم بیا بـه خپل امانت راتـه راکې، هلـک تـرې بکـس واخیستـه د دوکـان پـه یوه کونج کې یې کیښوده، سوداګر لاړو څـو ورځـې وروسـتـه دا هلـک مړشـو، د مـاهیګر پـه کورکې شور اوغوغا جوړه ده، د کلي ټول نـر او ښـځې پـه یوه ښپه راغلـي، چغې او جړاګـانې دي، مـاهیګر اوښـځه یـې مـخ اوسـر شـکیې چې ای خدایـه مونږلـه دې پـه اخرعمـر یـو زوی پیدا کـه، هغه دې هم رانـه واخیستـه، د کلـي خلکـو قبـر ویسـتـه، جنـازه، وشـوه، هلـک یـې ښـخ کـه، پـدې کـې شـل بیرتـه ګـوډی لـه سیند نـه راویستـه، هلـک چې ګـورې د هماغـه شـل خـوا تـه ولاړدی، تـوره تیـاره ده بـاران لا هماغسـې نـری، نری وریږي، هلک حیران شو، شل ورنـه پوښتنه وکړه چې ځوانه سحر دې ولیده؟ هلـک وویل:هو! شـل ورتـه وویـل: چې چاله بـه حل نـه وایې، ترڅو مـا درتـه نـه یې ویلي، ځه اوس کورتـه لاړشـه، هلـک چې کورتـه راغـی، پلاریې ورتـه وویـل: زویه راغلې، څنګه ژر راغلې شل خودې چېرتـه پـه نیمـه لارکـې پـرې نـه ښوده، هلـک بیـا حیـران شـو، چې مـا څـومره کلونه په بل وطن کې د بل چا پـه کورکې تیرکـړل او دوی وایـي چـې ژر راغلـې، هلک نورڅه ونه ویل، وې ویل اوو پلاره خپل ځـای تـه مـې ورسـاوه؛ شپې ورځې تیریدې یـوه ورځ دې سړي خپل زوی تـه وویل: زویـه تـه اوس زلمـی شـوی یې، د خوشـې او ایلـه ګرځیـدو نـه څـه نـه جـوړیږي، راځـه چې پـدې ښـار کـې یـو دوکـان درتـه جوړکمـه، سـات بـه دې ورسره تیروی، یوڅه ګټه وټه به هم کی، هلک وویل: پلاره دا خو ډېره ښه خبره ده زما ام خوښه ده چې یوکارو بار وکم، هلک په بازار کې یو دوکان جوړکه، قلار پکې ناست وي، سهار ځې ماښام راځې، ښه خوشاله دی سات یې تیردی.

ورځونـه یـوه ورځ ده چې هغـه سـوداګر بیرتـه راستون شـو، چې هغـه دوکـان تـه راغلی ګوري دوکان قلف دی، پوښتنه یې له نـورو دوکاندارانو وکړه، هغوی ورتـه وویل: کاکا هغه خو دا څو ورځې کیږي مړشوی دی، سوداګر ډېر خفـه شـو، لـه دوکانـدارانویې د کـور پتـه واخیسـتـه، د مـاهیګر کورتـه وراغـی، د مـاهیګر سـره یـې غمـرازي وکـړه، بیـایې ورتـه وویـل، چې ستا د زوی پـه دوکان کې ما یو څـه امانـت ایښـی ؤ، کـه هغـه راکې، مـاهیګر ورته وویل، سوداګر ماما په زخمونو مې مالګـه مـه دوروه، زه هغـه دوکان نـه شم پرانستلی، ځه خدای دې مل شـه، کـه کلـه دې بیا راپیښه وکړه امانت بـه دې درکـم، سوداګر همداسې خپـه روان شـو، ځـي ځي یوبل ښارته ورسیده، هلتـه پـه یوه

بازار تیریږي، په دې هلک یې سترګې ولګیدلې، یوه ښه شیبه ورته ولاړ دی، ښه یې ورته کتلي، شک یې پې راغلی، خو بیرته یې د هغو دوکاندارانو او دهغه د پلار جراګانې مخې ته ودریدلې، د هغه قبر یې لیدلی و، نو له ځان سره یې وویل، هغه خو مړ شوی دی، همداسې تې روان شوی دی، یو ټوټه چې تلی بیا یې زړه طاقت نه دی کړی، بیا راستون شوی، دوکان ته ولاړدی هلک ته په ځیر، ځیر ګوري، هلک دا سوداګر پیژندلی دی چې دا خوهمغه سوداګر دی، چې له ما سره یې امانت ایښی ؤ، سوداګر ځو ځلې ښکته او پورته لاړشي او بیا راشي، دهلک دوکان ته ودرېږي، خو څه سربه دې خوږومه، اخر هلک تې پوښتنه وکړه، چې کاکا دا ځوم ځل شو چې ځې راځې او زما دوکان ته ودریږې، څه خودې نه ویل؟ سوداګر دهلک په دې خبره لږ نورهم د هلک خوا ته ورنږدې شو، ورته یې وویل، ځوانه خپه کیږه مه، یوه پوښتنه درنه کومه، هلک ورته وویل، کاکا شل پوښتنې خو وکه ولې به خپه کیږم، سوداګر ورته د خپل امانت د کېښودلو ټوله کیسه وکړه، چې اوس هغه دوکاندار مړ دی، زه یې کورته هم لاړم، ما یې قبرهم ولیده، خو تا دې خدای نه مړکیې، هغه په رنګ اوقواره کې ټول له تاپه شانې وه؟ هلک ورته وویل، کاکا هغه همدا زه یم، لاړشه پلارته مې ووایه چې دوکان په برکونج کې ستا امانت ایښی دی، تا ته به یې درکې، سوداګر حیران شو، ورته یې وویل، ته خو مړ شوی وې؟ هلک ورته وویل، کاکا د نورو خبرو پسې مه ګرځه، ځه لاړ شه خپل امانت دې واخله. سوداګر خوشاله شو، په منډه، منډه ماهیګر پسې لاړه، ورته یې وویل، چې تا خو ویلې چې زما زوی مړشوی، هغه خوجوندی دی، په پلانکی ښار کې دوکان کیې او دا دې نښه چې ماته یې وویل، پلارته مې ووایه دوکان بیرته که په برکونج کې ستا امانت ایښی ترې وایې خله، ماهیګر چې دا خبره واوریدله حیران هم شو او خوشاله هم شو، سوداګر ته یې وویل، چې تا له به خپل امانت درکم، خو ما به مې خپل زوی ته ورولې، سوداګر وویل، په دواړو سترګو، ماهیګر دوکان بیرته کړ، رښتیا هم په هماغه ځای کې د سوداګر امانت ایښی ؤ، هغه یې سوداګرته ورکړ، ماهیګر او ښځه یې دواړه له سوداګر سره هغه بل ښار ته راروان شول، سوداګر ماهیګر او ښځه دواړه دهلک په دوکان وسپارل، رښتیا هم چې ګوري همغه زوی یې دی، هلک یې مخې ته را پاځیده، سترې مشې، خواره مشې یې ورسره وکړه، دوکان یې بند کړ، ماهیګر او ښځه یې خپل کورته راوستل، د هلک مور او پلار د ماهیګر او د هغې د ښځې ښه قدر اوغزت وکړ، هغوی فکر وکړ، چې د زوی میلمانه یې دي، ماهیګر او ښځې یې دوه درې شپې وکړې، په بله ورځ د ماهیګر ښځې وویل، مونږ نور ځو، هلک ته یې وویل، ځه چې ځو، د هلک مور ورته وویل، چې ځه بیا به کله درشي، د ماهیګر ښځه کلکه ده وایې چې نه، خورې بس دی ډېرې شپې یې وکړې نورې مونږ بیایو، د هلک مور ورته وویل، ای خورې! دا ته څه وایې، اوس اخېره کې زوی رانه بیایې؟ د ماهیګر ښځې ورته وویل، ای خورې ته څه، څه وایې په اخره کې زوی رانه ستنې؟ هلک غلی ولاړ دی هیڅ هم نه وایې، اخر دا چې خبره جرګې ته شوه، د جرګې خلک چې له هلک نه پوښتنه وکې، چې د چا زوی یې؟ هلک وایې د دواړو، خوګه سر به دې خوږومه خبره قضا ته شوه، قاضې ټول راوغوښتل هر یو خپل دلایل وویل، چې د هلک نه یې پوښتنه وکړه، چې د چا زوی یې؟ هغه بیا وویل د دواړو، لنډه دا چې قاضې هم دا مسئله حل نه کړه او خبره تر باچا ورسده، باچا چې د ټولو دلایل واوریدل، له هلک نه یې چې پوښتنه وکړه هغه بیا همغه پخوانۍ خبره کوله چې زه د دواړو زوی یم .

باچا امر وکه، چې اوس د جمعې ورځ ده، زه ځم چې غسل وکم د جمعې د مانځه له پاره تیاری وکم، د مانځه نه وروسته به بیا پدې مسئله بحث کوو، باچا لاړه تشناب ته ننوته، د هلک میندې او پلرونه او نور راغلي خلک لاړل د مانځه نه وروسته به بیا دربار ته حاضرېږي وزیران، د باچا د راتلو په تمه په دربار کې ناست دي، هلک په منډه، منډه لاړو، شل ته یې دا ټوله کیسه وکړه، چې زه اوس څه وکم باچا به له مانځه وروسته بیا له مانه پوښتنه کیې، شل ورته وویل: ته اوس لاړ شه باچا نور له تانه پوښتنه نه شي کولی.

دا په امدې ځای کې پریده خبرې د باچا کوه، باچا چې کله تشناب ته ننوته کالي یې ویستل، شل پرې سحر وکه، له باچا یې یوه پیغله کوچۍ جوړه کړه، ګوري چې په یوه دښته کې ولاړه ده، یو ځوان چې په آس سورۀ، راغي کوچۍ یې له ځان سره په آس سوره کړه، کورته یې بوتله، د کوچۍ واده جوړ شو، هغه ځوان ځان ته په نکاح کړه، څلور پنځه کاله په دې منځ کې تیرشول د کوچۍ درې بچي وشول، ناڅاپه باچا سترګې وغړولې ګوري په اماغه تشناب کې بربنډ ناست دی غسل کیې، حیران شو، زر، زر یې کالي واغوستل دربار ته راووته ګوري چې وزیران اماغسې د ده په تمه ناست دي، مشر وزیر ورته وویل باچاصیب تا خو نن ډېر زرغسل وکه، ته خوپه امدې شیبه ننوتې، باچا حیران شو چې دا څنګه چل دی، زه خو ښځه شومه، واده شومه، څلور پنځه کاله منځ کې ووتل، درې بچې مې وشول او دوی وایې چې ډېر ژر راووتې، باچا هیڅ ونه ویل، خو ډېرزیات وویریده، پوه شوچې په دې مسئله کې ام داسې کوم چل شوی او که په دې کې نورې پوښتنې شروع کې هسې نه چې دا ځل درنه بل شي جوړنه کي، د جمعې د ما نځه نه وروسته چې ټول سره راټول شول، دربار جوړ شو، باچا امر وکه وې ویل: هلک چې څه وایې هغه سیې دي، هلک د دواړو زوی دی، یوه میاشت دې په یوه کورکې وي اوبله میاشت دې په بل کورکې وي، وزیران اود دربار خلک ټول د باچا دې فیصلې ته حیران شول، خو چا له ویرې څه ونه ویل.

(د باچا خوب، له کتاب څخه)



# اساس مالکیولی سرطان

# Molecular Bases of Cancer

پوهنیاردگروال جنت گل (نوری)

هرنوع تغییرات جنتیکی که منجر به تنقیص فعالیت های جین های نهی کننده تومور (T.S.Genes)گردد در بروز حجرات سرطانی سهیم می باشد. محصولات پروتینی جین های نهی کننده تومور وظایف مختلف را دارا اند.

به طورمثال DNA ناقص که در حقیقت عامل تغییرات مختلف جنتیکی می گردد توسط محصولات پروتینی T.S.Genes ترمیم میگردد.محصولات پروتینی دیگر جین های متذکره سبب اتصال حجرات باهم گردیده و تماس حجرات را با محیط خارج الحجروی تامین و در Cell communicationرول موثر را بازی می نماید. همچنان محصولات پروتینی دیگری این جین ها در تشخیص و شناخت میان حجرات و فکتورهای دیگر مانند باز داشتن ویا توقف سایکل حجروی سهیم می باشد.پروتین های که محصول Oncogenes اند با پروتین های کاذب نهی کننده در عملیه های Cell normal signalingمداخله می نماید.

جهت توضیح موضوع متذکره لازم است محصولات دوجین اساسی و کلیدی که عبارت از Ras proto-oncogene وP53 جین که هر دو از جمله Tumor-suppressor genes مهم و اساسی محسوب می شوند مورد مطالعه دقیق قرار داده شود. تغییرات جنتیکی یا Mutation در این دو جین در حجرات سرطانی انسان ها بسیار زیاد به مشاهده رسیده است که فیصدی آن در جین اول حدود ۳۰٪ و دومی آن در حدود ۵۰٪ تاثیرات سرطانی آن به مشاهده دسیده است.

هر دوجین Ras proto-oncogene وP53 پروتین،اجزای سلسله سگنال رسانی (Signal transduction pathway) اند که مسولیت انتقال سگنال های خارجی را به DNA در داخل هسته به عهده دارند. در مورد فعالیت Growth Factorعملیه طوری می گیرد که ابتدا محصول جین Ras عبارت از پروتین G است که وظیفه انتقال سگنال نمو(Growth) را از Growth factor receptor که بنام Tyrosine-Kinase receptor یاد می شود ودر بالای غشای حجروی در قسمت خارجی حجره موقعیت دارد به گروپ از پروتین های Kinase انتقال می دهد.

بعد از عملیه Phosphorylation این پروتین سگنال ها را داخل هسته نموده فکتور Transcription که بنام Activator نیز یادمیشود مانند Ras protein در تظاهر جین ها جهت ترکیب پروتین های که برای تحریک سایکل حجروی ضروری است عملیه را انجام می دهند. هرگاه جین Ras ویا فکتورهای سهیم در این عملیه در معرض Mutation قرار گیرند، عملیه به صورت غیرنارمل عمل نموده انقسام حجروی بدون کنترول صورت گرفته در نتیجه حجرات سرطانی ظهور می نمایند. از طرف دیگر در این عملیه،جین Rase مؤلد Hyperactive ras protein محصول Oncogeneبوده،بدون موجودیت فکتورنمو،دستور یا سگنال را صادر نموده که این عملیه نیز در ازدیاد انقسام حجروی غیر قابل کنترول تاثیر وارد نموده و در بروز سرطان سهیم می باشد و این حادثه عموماً در اثر مصاب بودن Ras Oncogenes یا Point-Mutation محصول پروتینی بیش از حدنارمل فعال می گردد منجر می گردد.

ازطرف دیگر عملیه نهی کننده فکتورنمو (Growth-Inhibiting Factor) طوری است که این عملیه مانع انقسام حجروی میگردد.ابتدا در این عملیه،موجودیتDNAناقص به حیث سگنال محسوب گردیده،فکتور نهی کننده به Receptor وصل و محصول پروتینی G-Factor را ترکیب بعداز عملیه Phosphorylation با پروتین Kinase یکجا گردیده داخل هسته شده فکتور Transcription مانند جین P53 تظاهر نموده جینP53 پروتین P53 را ترکیب می نماید.این پروتین به حیث فکتور Transcriptionبرای چندین جین دیگر به کار می رود.معمولاً پروتین P53 جین دیگری که بنام P21 یاد میشود تحریک وفعال ساخته که محصول پروتینی آن عملیه سایکل حجروی را از طریق پیوست شدن با Cdk متوقف می سازد وباین ترتیب وقت کافی را جهت ترمیم DNA تخریب شده مهیا می سازد.

معهذا،پرتین P53 به تنهائی قابلیت تحریک جین های که در ترمیم DNA سهیم اند دارا می باشد.هرگاه مالیکول DNA غیرقابل ترمیم باشد،درینصورت P53 جین های که بنام Suicide gene یاد میگردد فعال ساخته که محصول پروتین ها منجر به تخریب حجره گردیده و این عمله را بنام Apoptosis یاد می نماید.هرگاه P53 ناقص ویا غایب باشد بروز سرطان حتمی است.

# چاقی و سندروم میتابولیک



دگروال دوکتور احمدالله "روحی"

مقدمه

در کشور های صنعتی شیوع چاقی به حد اپیدیمی رسیده است. چاقی با افزایش میزان مرگ و میر و عوارض نا مطلوب همراه بوده و علت اصلی مرگ های قابل وقایه در ایالات متحده امریکاه است .

تعریف: چا قی عبارت از افزایش شحم بدن است.

۱- چربی در مردان سالم ۱۸٪ وزن بدن و در زنان سالم ۲۵٪ وزن بدن را تشکیل میدهد .

۲- افزایش وزن حالتی را گویند که در آن وزن فرد بالاتر از حد طبیعی با شد و مشخصاً نسبت به معیارات اپیدیمولوژیک یا آ ماری انحراف داشته باشد. در اکثر موارد افزایش وزن نشانگر افزایش چاقی است .

۳- Body Mass Index (BMI) با تقسیم نمودن وزن (بر حسب Kg بر مجذور قد (بر حسب متر) به دست می آید .در مورد مقدار مطلوب BMI اختلاف نظر موجود است. اما عموماً BMI بین 20- 25 kg2 به عنوان وزن سالم در نظر گرفته شده است. BMI بین 25-27kg2 تا حدی با افزایش خطر همراه است . BMI بالاتر از 27kg2 مشخصاً نمایانگر افزایش خطر بوده و BMI بیشتر از 30 kg2 با افزایش قابل توجه میزای خطر همراه است .

اپیدیمو لوژی: در ایالات متحده بیش از ۵۰٪ نفوس جامعه دارای وزن اضافه اند (BMI بین 2 kg 29.9 - 25 دارند) و ۳۰٪ افراد چاق اند (BMI > 30 kg2) . چاقی شدید (BMI >_ 40kg2) در حدود ۳٪ مردان و ۷٪ زنان دیده میشود .

۱- شیوع چاقی در میان اقلیت های قومی به خصوص زنان سیاه پوست غیر اسپانوی به میزان بالا است .

۲- بیش از نیمی از افرا د ٤٠ ساله بیشترچاق بوده و بیش از ۸۰٪ آنها دارای وزن اضافی اند .

۳- به تبع سایر موارد، شیوع چاقی در کود کان و نو جوانان نیز در ایالات متحده افزایش یافته است . در حدود ۱۸٪ از نوجوانان و در حدود ۱۰٪ از کودکان ۲ – ۵ ساله دارای وزن اضافی هستند .

ایتیو لوژی: در صورتی که فرد بیش از میزانی که انرژی مصرف میشود کالوری مصرف کند شروع به انباشتن چربی میکند. در این حالت اخذ انرژی از مصرف آن بیشتر است. برای کاهش چربی بدن باید کالوری کمتری مصرف شود و یا میزان کالوری که فرد اخذ میدارد بیش از کالوری اخذ شده باشد. حتی اگر میزان اخذ یا مصرف کالوری فرد کمتر از ۱۰٪ نسبت به حالت طبعی بالا و یا پایین شود .منجر به افزایش وزنی در حدود 13.5 kg در سال خواهد شد .

الف : سیری

سیری احساسی است که بعد از ارضا شدن حس گرسنگی ایجاد میشود . حجرات اخذ کننده غذا که احتمالاً در هایپو تلاموس قرار دارد ، یک سیگنال میتا بو لیک ایجاد میکنند که با عث سیری میشود . مطالعات نشان داده است که تشوش در فعالیت سیرو تونین ، دوپامین و نر اپی نفرین میتواند در تنظیم سلوک خوردن از طریق هایپو تلاموس دخیل باشد .سایر عوامل هورمونی که ممکن است نقش داشته باشند عبارت اند از هورمون آزاد کننده کورتیکو تروپین ،نیوروپپتید ۷ ، هورمون آزاد کننده گونادوتر و پین ،و هورمون آزاد کننده تایروئیدی . به تازه گی در مطالعات حیوانی ماده ای به نام آبستاتین (Obestatin) کشف شده است که نوعی هورمون است، که در معده ساخته شده و با عث سیری میشود .احتمالاً میتواند از این هورمون برای ساختن ادویه ها ی کاهش دهنده وزن در انسانها استفاده کرد .

خوردن تحت تاثیر آخذه های کانا بینوئید نیز هست و تحریک این آخذه ها با عث افزایش اشتها میشود. ماری جونا بالای این آخذه ها تاثیر وا رد نموده و این امر باعث افزایش اشتها در افرادی که ماری جونا استفاده مینمایند دیده شده است. Rimonabant ادویه است که تاثیر inverse agonist با لای آخذ های کانا بینوئیدی دارد و باعث از بین رفتن اشتها میشود. که در طبابت استفاده کلینکی دارد.

ادامه دارد



# مهارتهای کنترول فشار های روانی ورزشکاران ازنگاه روانشناسی

پوهیالی دگروال غلام فاروق ( قاسمی )

فورمول فشار های روانی

۱-محرکهای محیطی، بر انگیختگی، افکار منفی، فشار های روانی.

۲-محرکهای محیطی، افکار منفی ، بر انگیختگی ،فشار های روانی.

سه راه برای تنظیم فشار های روانی

تمام روشهای تنظیم فشارهای روانی برای کم کردن فشارهای روانی دست کم یک تاسه راه را به کار میگیرند. با توجه به فورمول های قبلی فقط سه تغیر را ملاحظه کنید: محیط، سطح انگیختگی و افکار منفی.

۱- مهندسی محیط: دو عنصر که شما در محیط میتوانید مهندسی کنید عبارت اند از: کاستن بلاتکلیفی و کاهش دادن اهمیت نتیجه.

یکی از دلایل فشارهای روانی ورزشکاران اهمیتی است که آنها به نتیجه مسابقات قایلاً طوریکه قبلاً آموختیم، نتایجی را که یک فرد به آنها اهمیت میدهد ممکن است درونی و یا بیرونی باشند. تشویق های درونی مستقیماً در دسترس نیستند تا آنها را مهندسی کرد، ولی تشویق های بیرونی نظیر پول، جام های ورزشی، جوایز در کنترول شماست.

یکی از جنبه های مهم مهندسی محیط، سعی در تغییر دادن واکنش افرادی است که برای ورزشکاران بسیار مهم اند، زیرا این افراد مهم آنها را از نظر اجتماعی حمایت میکنند.

۲- کاهش برانگیختگی: اگر تنش کاهش پیدا کند، دلیلی ندارد که ذهن به دنبال دلیل بگردد. معمول ترین شکایت ورزشکاران در



خصوص بدن خود اینست که آنها نمیتوانند آرامش پیدا کنند و عضلات آنها سخت میشود؛ در نتیجه به سختی قادرند حرکات را با مهارت و سهولت انجام دهند. تقریباً هر فردی تنشهای عضلاتی ناخواسته را تجربه کرده است و حتی سبب گردیده حرکات ساده به صورت زشت اجراگردد.

با چهار روش ذیل میتوان تنش خود را کاهش داد:

۱-آرامسازی با استفاده از تصویر سازی ذهنی.

۲-آرامسازی خودگردان.

۳-تمرینات آرامش تدریجی.

٤-آرامسازی به اساس بازخورد زیستی.

قاعده اول اینست که اگر یک روش برای یک ورزشکار کاربرد دارد، بگذارید تا جایکه آن روش بازده دارد، ادامه پیدا کند. سپس اگر ورزشکار به روشهای دیگر علاقمند شد، روش های دیگر را به آن آموزش دهید.

آرامسازی با تصویر سازی ذهنی

این روش ورزشکاران را درگیر تصوراتی میکنند که آنها خود را در محیط یا محل کاملاً با آرامش و راحت حس میکنند. بعنوان مثال، در کنار ساحل در زیر آفتاب گرم دراز کشیده اند و نسیم خنکی بطور متناوب می وزد و امواج اقیانوس یک فضای با آهنگ منظم و دل انگیز خلق کرده است.

قدم های اولیه، برای آمادگی اجرای

آرام سازی به وسیله تصویر سازی ذهنی، انجام همان تمرینات تصویرسازی ذهنی است که بصورت زیر انجام میگردد:

- محل ساکت و آرام را انتخاب کنید.
- ورزشکار باید هوشیار باشدو نسبت به مسابقه ای که در پیش دارد هیجان زده نباشد.
- در باره یادگیری مهارت نگرش صحیحی پیدا کنند. زیرا بعضی ورزشکاران آنرا غیر مهم تلقی میکنند و بعضی از آن انتظارات غیر واقعی دارند.
- از ورزشکاران بخواهید یک محل راحت پیدا کنند، ترجیحاً روی زمین دراز بکشند، دستها به کنار افتاده باشد، پاها بصورت بالا نباشد و چشمها هم بسته باشند.

حال از ورزشکاران بخواهید برای کسب آرامش داشتن، درباره مکانهای مورد علاقه شان فکر کنند- جایی که در آن احساس راحتی و امنیت میکنند. چند لحظه به آنها فرصت دهید که این عمل را انجام دهند. حال به آنها آموزش دهید تا جای که میتوانند آرام باشند، نفس عمیق بکشند و به آرامی به بازدم بپردازند. از آنها بخواهید تنش عضلاتی خود را بیفزایند، نفس عمیق بکشند و بازدمی آرامی داشته باشند. حال خود را در آن مکان راحت تصور کنند. به آنها بیاموزید این حالت را با وضوح هر چه بیشتر در خودشان منعکس کنند نه تنها منعکس کنند بلکه خود شانرا در آنجا حس کنند- صدا های آنجا را بشنوند، هوای آنجا را بو کنند، یا هر چیزی دیگری را احساس کنند. آنها را وادار سازید به آرامش توجه کنند، تا احساس آرامش عمیق را در خود بیابند.

کلید استفاده موفقیت آمیز از آرامسازی از طریق تصویر سازی ذهنی عبارت اند از:

- داشتن محل مشخصی در ذهن که فرد با آن احساس آرامش کند.
- داشتن مهارتهای تصویرسازی ذهنی نسبتاً خوب که فرد بتواند به وضوح با چشم ذهن آن محل را مشاهده کند.
- تمرین کردن این روش در قدم های اول، در موفقیت فاقد فشارهای روانی سپس استفاده تدریجی از آن در موقعیت های فشار روانی بالا.

۳- کنترول افکار منفی: اعتقادات، احساسات ما را معین میکند و به شدت بر رفتار ما تأثیر می گذارد. اعتقادات ما از چگونگی تفسیر ما از وقایع زندگی سرچشمه میگیرند، و به وسیله آنچه به خودمان گوشزد می کنیم، آشکار میشوند. بناً سخن گفتن با خود بسیار مهم است و از سوی روانشناسان به صورت یک موضوع قابل بررسی درآمده است.

افکار منفی مانند یک رقیب درونی اند، رقیبی بس خطرناکتر از هر فرد یا تیم مقابل. در زیر با افکار یک ورزشکار قبل از مسابقه آشنا میشوید" اوه خدای من! آیا حریف آماده و سرحال است. من که سرحال و روان بازی نمی کنم! حریف خیلی بر خود مسلط است؛ و اشتباهی از او سر نمی زند من که ضعفی در او نمی بینم! ولی خود را مملو از عیب میبینم. ممکن است در این بازی نابود شوم. خدای من چگونه این بازی را به اتمام برسانم. اصلاً چرا در این بازی شرکت کردم!

این ورزشکار چه با صدای بلند خود را تنبیه کند، یا چی بی صدا و زیر لب با خود سخن بگوید، یا اینکه این افکار را حس کند بدون اینکه بر زبان جاری کند، باعث بوجود آمدن فشار های روانی، صدمه دیدن مهارت و همچنین سبب محروم شدن ورزشکار از لذت بردن از مسابقه و ورزش میشود.

مآخذ


۱) جی بول, استفن. ۱۳۷۷. *روانشناسی ورزشی*. [مترجم] پرستو اصانلو. تهران : دانشگاه الزهرا.

۲) عبدلی, بهروز. ۱۳۸٤. *مبانی روانی اجتماعی تربیت بدنی و ورزش*. تهران : بامداد کتاب.

۳) مارتنز, رینر. ۱۳۸٦. *روانشناسی ورزشی" راهنمای مربیان"*. [مترجم] محمد خیبری. تهران : مصور.

# د ډېرو هګیو خوړل، څومره زیان لري؟

هګۍ په پوره خوراکونو کې راځي. خو د زیاترو افغانانو د خوښې دغه خوراک څه نا څه بد نوم ګټلی دی. د هګۍ په خوړو سره د انسان کولسترول لوړیږي. خو پوښتنه دا ده چې څو دانې هګۍ خوړل تاوان نه لري؟

له یوې خوا هګۍ که بشپړ خوړک او ارزانه ګڼل کیږي، خو دغه پوښتنه چې څومره یا څو دانې هګۍ خوړل زیان نه لري، توپیر کوي. ځیني خلک بیا په دې باور دي چې د هګیو ژیړ خوړل د زړه د ناروغیو سبب ګرځي او انسان ته دا

یوه هګۍ په اوسط ډول ۱۸۶ ملي ګرامه کولیسترول لري او د یوه بالغ انسان له پاره د ورځې شاوخوا ۶۲ سلنه کولیسترول خوړل مناسب دي. خو ځیني وخت چې موږ د ډېر کولیسترول درلودونکي خواړه وخورو، نو په دې صورت کې د انسان بدن په کمه اندازه کولیسترول تولیدوي. سربیره پر دې، یو حقیقت چې ډیر کسان باید پرې وپوهیږي، هغه دا چې د کولیسترول خوراک د وینې پر کولیسترول باندې ډیر لږ اغیز کوي.



© Colourbox

پوښتنه پیدا کوي چې آیا هګۍ صحي خواړه دي که نه؟

د دې پوښتنې تر ځواب مخکې د هګیو په هکله دوې مهمې موضوعګانې: لومړی دا چې د هګیو سپین تر ډیره پروټین لري او ژیړ یې بیا معدني او غذایي مواد او ډیر قوي ګڼل کیږي. خو اصلي علت چې د هګیو خوراک له زیانونو سره مخامخ کوي، هغه د هګیو د ژیړو خوړل دي. د هګیو په ژیړو کې ډیر زیات کولیسترول شته او په ورته وخت کې د انسان بدن هم خپله کولیسترول تولیدوي، نو له همدې امله هګیو څه نا څه بد نوم ګټلی دی.

د چین په وهان ښار کې د هاوژونګ د ساینس او ټکنالوجۍ پوهنتون د یوې تازه څیړنې په پایله کې دا معلومه شوې چې په ورځني ډول د یوې هګۍ خوړلو له امله د زړه ستونزي او یا د زړه د حملې په برخه کې کومې منفي اغیزې نه رامنځ ته کیږي.

په دې څیړنه کې همدا راز ویل شوي دي چې هغه کسان چې د زړه ناروغي او یا شکر ولري او یا په وینه کې یې کولیسترول لوړ وي، نو په دې صورت کې باید د ورځې تر ۲۰۰ ملي ګرامه ډیر کولیسترول ونه خوري. په دې صورت کې دوی باید د هګیو په مصرف کې پام وکړي.

## شیدې ولې پوستکی ځوان ساتي؟

نن سبا په نړۍ کې ګڼ شمېر ښځې او نارینه خپلې ډېرې پیسې په سینګار



توکو لګوي، تر څو ښایسته ښکاره شي او پوستکی یې خراب نه شي؛ خو شیدې بیا هغه څه دي چې هم ارزانه دي او هم پر ښایست سربېره، د روغتیا لپاره ګټورې دي. په شیدو کې شته مواد د پوستکي د زړښت مخه نیسي، ځوان او تازه یې ساتي. په شیدو کې شته لاکتیک اسید د بدن پوستکي ته یو پوښ ورکوي، چې د دغه پوښ خلا په پوستکي کې د ښایست لامل کیږي. څېړنو ثابته کړې ده، چې په شیدو کې شته ویتامین B12، پروټین او کلسیم د پوستکي د خرابېدو او وچېدو مخه نیسي. تر ډېره په هغه کریمو کې چې د مخ د نرموالي لپاره کارول کیږي، لاکتیک اسید شتون لري چې دغه ماده په زیاته کچه په شیدو کې هم موندل کیږي. دغه راز که په اونۍ کې یو یا دوه ځله د شیدو له ماسک څخه ګټه واخیستل شي، له وخت مخکې د زړښت او د مخ د پوستکي د ګونځې کېدو مخه نیسي. دغه راز که په ورځني ډول یو ګیلاس شیدې وڅښل شي، د روغتیا لپاره ګټورې دي، غاښونه، نوکان او ویښتان هم روغ ساتي.

ژباړه: حمیدالله حمیدي

# سبزیجات صحت ته څه ګټې لري؟

د ډېرو تازه سبزیجاتو خوړل د صحت مند کیدلو لپاره لومړني ټاکنه ده او همدارنګه د سبزیجاتو څخه د غني غذایی موادو خوړل د سرطان، د وجود لړزه، لیوننتوب، د زړه ناروغۍ او همدارنګه د بې وخته زړیدلو څخه مخنیوي کیږي. تازه څېړنو ښودلي ده، هغه څوک چې د ورځې اووه قسمه سبزیجات خوری ۴۲ سلنه کم مړه کیږي د هغو خلکو په تناسب چې د ورځې د یو قسمه سبزیجاتو څخه استفاده کوي. دا ځکه چې سبزیجات په ډېره لوړه کچه تاثیرات لري. ایا تاسو په دي پوهیږي چې ډیری سبزیجات د انسان په وجود کي د ګازو د تولید مخنیوي کوي یا یی کموي او همدارنګه بعضي نور یی بیا د وجود د پوستکی د صافولو او ښایسته کولو دنده هم سرته رسوي. سبزیجات ستاسو سره کومک کوي تر څو پریشاني کنټرول کړئ، لکه څنګه چې دا واضح خبره ده چې د پریشاني مخنیوي د انسان د فزیکي او دماغي صحت لپاره ډیرمهم دي. ایا سبزیجات به په رښتیا هم د ارامتیا غذا وي؟ سبزیجات په رښتیا هم د ارامتیا غذا ده، ځکه چې سبزیجات هغه معدني مواد لري چې د انسان مقاومت د پریشاني په وړاندي قوي کوي. د سبزیجاتو خوړل ستاسو د مګنیشم او ویټامین سی کمبود پوره کوي کوم چې د خپګان به له منځه وړلو کي مهم رول لري. د سبزیجاتو خوړل به تاسو ته د امیګاه دری شحمیاتو او د ویټامین بی ضرورت پوره کړي، کوم چې ستاسو سره به د اضطراب او پریشاني په کمولو کي ډیره مرسته کوي. په سبزیجاتو کي د ویټامین کا شتون به ستاسو په وجود کي د التهاب د کمولو کي ډیره زیاته مرسته وکړي، هغه ځکه چې دا ویټامین د پریشاني په وړاندي ډیر مقاوم دي. ټول شنې پاڼي لرونکی سبزیجات لکه ګلپی، پالک، براکولی، شلغم، او داسي نور په ډیره اندازه مګنیشیم لري، چې دوي د انسان په وجود کي کورتیزول د توازن ساتلو دنده په غاړه لري، ددي ترڅنګ د پریشاني یا هم د خپګان د کمولو دنده هم سرته رسوي. مګنیزیم او پوتاشیم د ویني رګونه استوار او راحت ساتي، چې په نتیجه کي د وینی فشار ټیټ یا هم نورمال ساتل کیږي. مکنیزیم او پوتاشیم د کلسیوم په جذب کولو کي عمده رول سرته رسوي، هیره دي نوي چې دوي تاسو سره کومک کوي چې عضلات مو په عادي ډول خپلې دندې سرته ورسوي، عصبی سیستم مو نورمال وساتي، او همدارنګه د وجود محافظوي سیستم مو تقویه کړي. د مکنیزیم کمښت کوم چې د اضطراب د غیری نورمال کیدلو او د نیم سري (نیم سر درد) د را منځ ته کیدو سبب ګرځي، چې دغه دواړه ذکر شوي حالتونه د



پریشاني او یا هم د خپګان د را منځ ته کیدلو لامل ګرځي. اوګاډو(یو نوعه سبزیجات دي چې په افریقایی هیوادونو کي ډیر مشهور دي) یو د هغه نوعه سبزیجاتو څخه ده چې ددي سبزیجاتو څخه استفاده په مکمله توګه د پیشاني او خپګان د له منځه وړلو سبب ګرځي همدارنګه ویلې شو چې اوګاډو د خپګان او پریشاني د له منځه وړلو بهترین دارو دي. اوګاډو د پوتاشیم، ګلوتانین، مفید شحمیات او د فولیک اسید عمده منبع ګڼل کیږي، چې د نورو سبزیجاتو په نتاسب په اوکاډو کي کی مقدار زیات دي. د فولیک اسید څخه استفاده ستاسو د دماغو لپاره ډیر زیات مهم ګڼل کیږي، د یادولو وړ ده چې مارچوبه هم د فولیک اسید یو ډیر ښه سرچینه ګڼل کیږي.په بدن ګي د ګازو او د خیټي د پړسوب عمده لاملونه: د خیټې د پړسوب او په بدن کي دګازو شتون ستاسو د خوړلو پورې تړاوو لري چې څه مو خوړلي دي او څنګه مو خوړلي دي. د سبزیجاتو څخه استفاده کولي شي چې ستاسو په خیټه کي د ګازو او د خیټې د پړسوب څخه مخینوي وکړی پدي شرط چې ستاسو خیټه کوم صحي مشکل ونلري. د خیټې د پړسوب عمده لامل په خیټه کي د ګازو شتون دي، کوم چې نیمایی په خیټه کي د تولید شوي هوا له امله وي، تاسو کولي شي چې د اوبو په څښلو، ژاولو په ژوولو او یا هم کازداره مایعاتو په څښکلو سره په خیټه کي د ګاز تولید را کم کړي. په خیټه کي باقی نور تولیدونکي ګاز د هغه بکتریاوو له امله را منځ ته کیږی کوم چې لا دمخه دلته شتون لري او په خیټه کې د ټولو غذایی موادو په هضمیدو سره د ګاز د تولید لپاره زمینه برابریږي. کله چې غذایی مواد په کافی اندازه او د ضرورت په اساس معدي ته د هضمی سیستم له لارې ونه رسیږی نو پدي وخت کي په کلمو کي د ګازو تولید ته زمینه برابریږي، چې په نتیجه کي تاسو د خیټي درد، پړسوب احساس کوي او نا راحته کیږئ. هغه غذایی مواد کوم چې د خیټی درد او پړسوب لا هم ډیروی عبارت دي له: ټول خواږه لرونکي نباتات کوم چې سربیټول لرونکي دي او همدارنګه لیګومی نباتات چې په ډیره اندازه فرکتوز لري، لبنی تولیدات(په هغه صورت کې چې تاسو د هاضمي د لکتوز ستونزه په بدن کي ولري) او همدارنګه بعضي مشخص میوجات او سبزیجات لکه: کدو، ګلپی، د براسولي پاڼی یا هم ځوان براسولي او تور الو. دغه نباتات شکر او نشایسته لري چې ځني خلک یی د خوړلو وروسته د هضمولو سره ستونزه لري. په عجله سره د غذایی موادو خوړلو او په کافي اندازه نه ژوول هم د خیټي د پړسوب او درد لامل ګرځي. فایبر به مو یا دوست وي یا دښمن، ستاسو د معدي پوری تړاوو لری: تاسو به اوریدلي وي چې فایبر د صحت لپاره ډیر ګټور دي، مګر دا هم باید په یاد ولرو چې د زیات فایبر لرونکي غذایی موادو خوړل په هغه صورت کي چې د کلمو جدارونه مو یا هم زخمي او یا هم کوم صحي مشکل ولري د ډیر خطرناک صحي مشکل را منځ ته کیدلو سبب ګرځیدلي شي. که چیرته مو د ډیر فایبر لرونکو غذایی موادو د خوړلو سره د خیټي درد یا هم پړسوب پیدا کړو، نو پدي پوهه شي چې ستاسو هضمي سیستم تداوي ته ضرورت لري. ستاسو د هاضمی سیستم ددي لپاره ندي جوړ شوي چې فایبري غذایی مواد هضم کړي، کوم

چي د غذايي موادو په هضمولو کي عمده رول لري. فايبر محلول چي په بادرنگو، لوبيا او دي ته ورته نورو سبزيجاتو کي پيدا کيږي، همدارنگه فايبر محلول يو جال مانندە ساختمان غوره کوي، دغه جال مانندە ساختمان د غذا هضم را کموي او غذايي مواد په کراره، کراره هضم کيږي، همدا ددي لامل گرځي چي تاسو تر ډير وخت پوري د مړښت احساس کوي، فايبر لرونکي غذايي مواد د انسان د بدن وزن په کنترولولو کي مرسته کوي، ددي څخه داسي جوتيږي چي هغه خلک چي غواړي د بدن وزن را کم کړي د ډيرو فايبر لرونکو غذائي موادو څخه استفاده ورسره پدي هلکه تر يو حده مرسته کولي شي.

غيري محلولي فايبر: دا په تيره شنه پاڼه لرونکو سبزيجاتو کي پيدا کيږي لکه شنه لوبيا، گازري او داسي نور،چي په هيڅ ډول د هضم وړ نه دي او د ټول هضمي سيستم څخه تر تيريدو وروسته د غايطه موادو سره يو ځاى خارجيږي.فايبر ستاسو معدي ته د غذا په ورکول کي مرسته کوي: ډيري غذايي فايبر په کلمو کي د گټورو بکترياوو پواسطه هضم کيږي، کوم چي د لنډ وخت لپاره يو نوعه غوړ تيزاب توليدوي لکه بوتيريک اسيد، نوموړي اسيد ستاسو د کلمو د صحت لپاره هم ډير گټور دي. دوي ډير گټور غذايي مواد توليدوي. په هغه صورت کي چي ستاسو معده د پتوجنيک موادو څخه ډکه وي نو پدي حالت کي به د فايبر د هضم تاثيرات هم کم وي،فايبر يو غيري ارادي محرک دي، چي اساسي دنده يې د غذايي موادو لپاره د هضم د اسانيتاووي را منځ ته کول دي د معدى د بکترياوو لپاره. څنگه چي مخکي مو يادونه وکړه چي يو غيري ارادي محرک دي هغه ځکه چي د بتوجن او د گټورو موادو تر منځ فرق کول ورته ستونزمن دي، پداسي حال کي که غذايي موادو کي فايبر شتون ونلري، نو هضم به يې ډيره اسانه او په ډير لږ وخت کي به بيرته د لوږي احساس کوو نو ددي مشکل د مخنيوي لپاره بايد غذايي موادو کي د فايبر يوه عمده ونده په نظر کي ونيسو. کله چي غذايي مواد ژر هضم شي نو معده خالی کيږي او د معدى د خالی کيدلو سره بعضي مشکلات د انسان په بطن کي را منځ ته کيږي. څنگه وشو کړاي چي خپله معده عادي حالت ته را وگرځو، تر څو د بعدي مشکلاتو د مخنيوي لپاره مو لازم تدابير نيولي وي؟ چي تر ټولو بهتره طريقه يې د تخمير شوو غذايي موادو خوړل په دوامداره ډول سره، بعضي وخت په معده کي د ځينو غيرى هضم کيدونکو موادو شتون هم د انسان به هاضمي سيستم کي د بعضو مشکلاتو را منځ ته کولو سبب گرځي. دا چي څنگه خپله معده په دوامدار شکل سره په عادى حالت کي وساتو، ددي موضوع د روښانه کولو لپاره غواړم لنډ معلومات وړاندي کړم. د لنډ وخت لپاره د کمو فايبر لرونکي غذايي موادو څخه استفاده به هم گټوره وي چي خپله معده په نورمال حالت کي وساتو، چي د هغې جملي څخه يو هم GAPSغذايي مواد. دغه (GAPS) غذايي مواد فايبر کموي، هغه ځکه چي دغه مواد د زياتره موجوده بکترياوو پواسطه په کلمو کي هضم کيږي. ډيرى صحت مند خلک د ورځي تر ۳۲ گرامو ډير فايبر ته ضرورت لري، ددي ترڅنگه چي ډيري امريکايانو دغه مقدار يو څه اندازه را کم کړي دي. ټولو ته دا سپارښتنه کيږي چي ستاسو د خوراک فايبر بايد د سبزيجاتو، ميوه جاتو، او تخم بابو څخه تر لاسه کړي. بايد تر ډيره بريده هڅه وشي چي د تازه او د پاکو اوبو څخه دوامداره استفاده وشي، دا ځکه چي د صحي اوبو څښل د صحت لپاره ډيرگټوردي. سزيجاتاو به مو هميش خوان ساتي! سبزيجات ستاسو پوستکي نرم او تازه ساتي، بل دا چي د پوستکي لکی له منځه وړي او يا يې را کموي. ډيري سبزيجات د ۸۵ څخه تر ۹۵ سلنه اوبه او په زياته پيمانه پيتو نيترينت لري، پيتو نيترينت د بدن ځوان ساتل او همدارنگه د زورواليو په مقابل کي د بدن مقاومت کوي زياتوي. تر ډيره بريده همدا سبزيجات ستاسو د ځوان او تازه ساتلو لامل کيږي. سبزيجات د حجراتو مړينه د پريشاني کمول، د محيطي عواملو، نوري شعاوو او محيطي تيزابيت په وړاندي د وجود مقاومت زياتوي او ددي عواملو څخه د وجود د ساتني وظيفه هم سرته رسوي. ويتامين سي په پراخه پيمانه په روميانو، بادرنگو، شين مرچک، براکولی کی پيدا کيږي کوم چي کوليژن پروتين د جوړولو دنده په غاړه لري کلوژن د حيواني پروتين هغه عمده او اساسى برخه ده چي په حيواني پروتين کي په زياته اندازه شتون لري، د ويتامين سي د کمښت له امله د کلوژن پروتين توليد کميږي او با الاخره د پروتين جوړښت په ډيره ضعيفه اندازه مخ په وړاندي ځي. شفاف سور او ژيړ رنگه سبزيجات لکه گازرى، مرچک، او ژمنی قدو کوم چي په زياته اندازه بيتا کروتين لري، د بيتا کروتين دنده د لمر په وړاندي د انسان د پوستکی ساتنه د لمر سوځيدلو څخه کوي. د روميانو په جوړښت کي د ليکوپين شتون، چي د لمر ضد طبعي کريم دنده سرته رسوي. يوې سکاتلنډي څيړني څخه څرگنديږي چي ډيرى زده کوونکي وړانديز کړي دي چي د سبزيجاتو او ميوه جاتو څخه استفاه ستاسو د جزابيت او ښايسته والی سبب گرځي. څيړنو موندلي ده چي د ميوجاتو او سبزيجاتو په جوړښت کي کاروتنوئيد شتون کوم چي د صحت او ښايسته لپاره ډير گټور دي او وړانديز يى کړي دي چي د سبزيجاتو او ميوه جاتو څخه استفاده د پوستکی بهرنی ساحه ښايسته او جذابه ساتي. سبزيجات هډوکي صحت مندوي: تازه سبزيجات د هډوکي د صحت لپاره ډير گټور دي. په سبزيجاتو کي په ډيره پيمانه کليسيوم، مگنيزيم، سليکا او همدارنگه بعضي نور معدني مواد شتون لري چي د هډوکي د تقوى او صحت مندتوب لپاره ډير گټور دي. ويتامين کا ۲ هم په سبزيجاتو کي په ډيره پيمانه موندل کيږي چي د هډوکي په صحت کي ډير اساسى او عمده رول لري، د يادول وړ ده چي دا ويتامين په لومړى ځل بعضي ساحو ته ځان رسوي چي هلته کليسوم ذخيره کيږي لکه غاښونه او بعضي نور نرم عضلات د انسان په وجود کي چي هلته ذخيره شوي کليسوم له منځه وړي چي د کليسوم له منځه وړل د ويتامين کا ۲ له اساسی دندو څخه شميرل کيږي ددي تر څنگه نوموړى ويتامين د هغه ساحوى ساتنه هم کوي چي هلته د کليسوم شتون د مشکلاتو د را منځ ته کيدلو امکانات شتون ولري لکه له شريانونو او نازکو عضلاتو څخه. د ويتامين کا ۲ بله همده مبنع تخمر شوى سبزيجات دي هغه چي د تغذيوى موادو د ډيرولو لپاره په کلتورى شکل تخمير کيږي.

داکتره مريم زينب

# بریالی انسان

هر انسان د دی غوښتونکی دی او دا غواړی چي د ژوند په هر ډګر کي بريالی اوسي، هيڅ څوک هم دانه غواړی چي له ناکامی سره مخ شي.

د خپل بریالیتوب لپاره جلا جلا لاري لټوي او په هغولارو تګ کوی چي د ده په اند د بریالیتوب لاری وی. څوک خپل بریالیتوب په چوکی، جاه و جلال اويا شتمني کی لټوي، څوک بيا په خپل زور ځواني او طاقت دومره مغروره وي چي د بریالیتوب هغه اصلی لاری تری هيری شوی وی او په داسی کنډو او کپر سر شوی وی چی په پايله کي خپل ځان هم غرق کړی او خپله کورنۍ هم له فناه کيدو سره مخامخ کړی. دغه بدبختی سره هغه کسان مخ کيږی چی اصلا له خپل خلقت نه خبرنه وی چي زه خدای(ج) د کوم اصل له مخي او د کوم هدف لپاره پيدا کړی يم. ځکه الله (ج) په خپل کتاب عظيم الشان قران کی د انسان خلقت کمزوری او ضعيف ښودلي. نو دغسي کمزوری انسان بيا په دی هم سم نه پوهيږي چي خپل ځان ته د بریالیتوب رښتيني لاري وټاکي. نو په کار ده چي د بریالیتوب د لارو موندلو په خاطر د الله (ج) قران او دهغه د پيغمبر(ص) مبارکو احاديثو ته مخه وکړي او په هغه عمل وکړي. ترهر څه لومړي خو په کارده چي انسان بايد مؤمن وي د خدای ج په وحدانيت، د قيامت په ورځ د الله (ج) په فرښتو او په ټولو آسماني کتابونو او په بيا ژوندی کيدو چي الله (ج) به د خپلو ټولو بنده ګانو سره حساب وکړی او خپل هر بنده ته به د هغه د اعمالو برابره بدله ورکوی. هغه لوی خدای(ج) خپلو بنده ګانو ته د بریالیتوب لاره ښيي د سورت بقری په لومړي مبارک ايات کي داسي فرمايي:

ژباړه: (دغه کتاب چي هيڅ شک په کي نشته لارښود دی د متقيانو لپاره چی له خدای (ج) څخه ووېريږی او عقيده ولری په غيب سره چی الله ج شته، بیاژوندی کيدل شته، جنت او دوزخ ټول شته) او د الله (ج) لخوا فرض کړی شوی لمونځ د ټولو ارکانو سره د زړه په خاص حضور په عاجزی سره ادا کړي او هغه مال اوشتمني چي خدای (ج) ورکړی، د خدای(ج) بيوزلو بنده ګانو ته د خپل توان سره سم نفقه کړی او د هغه له بنده ګانو سره مرسته وکړی. د اخرت په ورځ پوره ايمان ولری دغه ډله خلاصي موندونکو او همدغه کسان بريالی دی.

په سورت عصر کی لوی خدای(ج) فرمايی، چی قسم په زمانه چی انسان په تاوان او زيان کی دی، مګر هغه کسان چي مؤمنان وی. او نيک عملونه وکړی له نيک عمل نه يوازی فرضی عبادت نه، بلکي نيک عملونه ډير زيات دی چي خدای(ج) پری خوشحاليږی. د هغه له بنده ګانو سره مرسته کول، د بيوزلو انسانانو لاس نيوی د خدای (ج) د رضا په خاطر مينه او محبت کول دی. او په حقه فيصله کول او د حق خبری آواز او چتول، د ظالم مخه نيول او مظلوم له ظالم څخه خلاصول دی. د سورت په پای کي د صبر په برخه کی امر شوی دی چي که يو انسان صبر اختيار کړی، مانا دا چي په خپل حق صبر و کړی او د نورو خلکو شتمنيو، ته سترګی کړی نه کړی، د نورو په مال، ناموس او آزادی چی خدای (ج) يو بنده ته ورکړی تيری ونه کړی. د حق بيان او په خلکو کی يی د رواجولو په برخه کی چي څومره تکليفونه پری راشي، هغه وزغمی او د خپلو ټولو پريشانيو او زحمتونو د حل هيله او ارزو يوازی او يوازی د خدای(ج) له درباره وکړی او دهغه لوی ذات د رضا په خاطر د خدای(ج) له بنده ګانو سره ښيګنی وکړي. نيک او ترټولو ښه بنده هغه وی چي د هغه له لاسه د خدای(ج) بنده ګانو ته ازار ونه رسيږی د کلی کور اوسيمی ټول خلک د دغسی انسان له زيان او تاوان له نه رسولو څخه مطمين وی، همدغسی انسان ته بريالی انسان ويلی شو.

نورزاخان لودين

# د بریالي کارکوونکي ۵ غوره ځانګړني

ولې داسې فکر کېږي چې ځینې ځیني کارکوونکي په ادارو کې د پرمختګ مزی ډېر ژر ځغلوي، خو ځیني بیا د کلونو په تېرېدو سره بیا هم په خپل ځای کې همغسې پاتې کېږي؟ ښایي فکر وکړئ چې د دې کسانو د بریالیتوب او پرمختګ دلیل به همدا وي چې دوی د ښه مغز، وړتیا او استعداد خاوندان دي، خو ځیني نور دلایل هم شته چې دوی په دې برخه کې بریالي کوي او د مخکې تګ زمینه ورته برابروي.

هڅه وکړئ چې دا ۵ ځانګړنې خپل عادت وګرځوئ، ترڅو وشئ کولی بریالی کارکوونکی شئ:

۱) زه د خپل برخلیک مسئول یم

که د ژوندانه په ټولو پړاوونو کې د په زړه پورې پېښې په انتظار یاست، نو احتمالاً چې انتظار به مو اوږد وي. بریالي متخصصین هغه کسان دي چې خپله بهر راوځي او دغه پېښه رامنځ ته کوي.

نو هڅه وکړئ چې په متفاوته بڼه ځان ته وګورئ. کارونو کې مو هڅه او ربښتینولي مه هېروئ او دا په یاد ولرئ چې د خپل ځان مسئول یوازې خپله یاست.

۲) هرڅه ممکن دي

فکر کوئ چې هېڅکله به ونشئ کولی چې د اداري د ریاست مقام ته ورسېږئ؟ نو مطمینه شئ چې نشئ کولی. دا مو په یاد وي: که فکر کوئ چې نشئ کولی، نو په ډېر احتمال سره چې به یې ونشئ کړی.

دا مو ځان ته تلقین کړئ چې هر هغه څه چې وغواړئ، ورته رسېدی شئ؛ خو په دې شرط چې غښتلی عزم ولرئ او ستونزې وګالئ.

۳) هر یو کس ستاسو لپاره د اړیکې یو مهم پل دی، سره له دې چې لازمه ده خپل چاپېریال کې یو جدي شخص واوسئ، خو کولی شئ د خپلو شاوخوا کسانو سره په مهرباني چلند او رفتار وکړئ.

فکر کوئ چې د رئیس یا مدیر سره مو ښې اړیکې درلودل ارزښت نلري؟ مطمینه اوسئ چې دا کرنه ډېره مرسته درسره کولی شي. د شاوخوا کسانو سره مودبانه چلند وکړئ، ځکه تاسو په دې نپوهیږئ چې دغه کسان به کله او چېرته تاسو ته ګټه ورسوي.

۴ـ یوازې دا بسنه نه کوي چې په څه پوهیږئ، بلکې څه او څومره کسان پېژنئ؛ دا هم مهمه ده بریالي کارکوونکي د دفتر دننه او بهرنیو اړیکو په ارزښت ښه پوهیږي. باید وشئ کولی چې د ځان لپاره فعاله او تخصصي اړیکې جوړې کړئ.

همکاران مو د یو وخت خوراک لپاره له دفتر څخه بهر مېلمانه کړئ. وروسته له کار څخه د خپلو څو تنو همکارانو سره یوځای رستورانت ته لاړ شئ.

د تخصصي بهیر غړیتوب واخلئ او د خپلې روښانه راتلونکې لپاره ارتباط سازي وکړئ.

۵ـ نور څه کار ترسره کولی شم؟

برخلیک مو تر یوځایه خپل لاس کې دی، د دې لپاره چې وشئ کولی په خپل کاري برخه کې پرمختګ وکړئ، باید په کار مو توجه او تمرکز وکړئ. د یوې اضافي پروژې د اخېستلو لپاره داوطلبه شئ. یو نوی مهارت زده کړئ چې په ترڅ کې یې د لوړ رتبه مامورینو پام ځان ته راواړوئ. د همکارانو سره د همکارۍ په موخه کله ناکله په کاري محل کې پاتې شئ. بریالي کارکوونکي هغه کسان نه دي چې یوازې خپل کار ترسره کړي، کارځای پرېږدي او لاړ شي.

ژباړه: محمد عزیز پردیس

# دیدگاه ها
## لید لوري



### د ملـي اردو لیکـي لـه یـوې ورځـې نـه بلـې تـه غښـتلي اوځواکمني کیږي

هرملـت اوټولنـه د خپـل هیـواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ، دیني اوملي ارزښتونو د دفاع په خاطر یو دفاعي او پوځي جوړښـت تـه اړتیا لـري، زموږ ګران هیـواد افغانستان هـم د نـړۍ د نـورو ملتونـو اوهیوادونـو پـه څیر یـو د ځـواکمن سیسـتم لرونکـی هیـواد دی، چـې د دغـه سیسـتم د ملاتیـرد ملـي اردو ځواکونه تشکیلوي.
د ډیرې خوښۍ اوخوشالۍ ځای دی چې د ملی اردو لیکي له یوې ورځې نه بلې ته غښتلي اوځواکمني کیږي، زموږ زړور ځوانـان د هیـواد لـه هرګـوټ اوهرقـوم څخـه پـه ډیرې خوښۍ سره راځي، د خپل سرلوړي هیـواد اومتـدینو خلکـو د دفـاع او ساتنې په خاطر د ملي اردو په لیکو کـې خپـل ځانونـه شاملوي او هیـواد اوخلکو ته خدمت کوي.
لـه نیکـه مرغـه نـن ورځ دهیـواد امنیتي ځواکونو اوپـه ځانګړي توګه د ملـي اردو منسـوبینو خپلـو درنـو هیوادوالو او نړیوالو ته دا ثابته کړه چـې افغـان امنیتـي ځواکونـه اوپـه ځـانګړي توګـه ملـي اردو د دې ځـواک اوتـوان لـري چـې پـه ډیره میرانـه د خپل هیواد اوخلکو څخه دفاع او ساتنه وکړي او دا یې په عمل کې ټولو ته وښوده.

ذکریا د دیتابیس پروګرامر



جـای شـک و تردیـدی نیسـت کـه نیروهای دفاعی و امنیتی کشـور روز تـا روز تجهیز و اکمال میشوند، با انگیزه و مورال عالی در برابر هراس افگنـان بـا متانـت مـی رزمنـد، دشـمنان صلح و آرامش این سرزمین بـا شـنیدن آغـاز عملیات نیروهای دفـاعی و امنیتـی بـه خصوص نیروهـای کومانـدو و قطعـات خاص از ساحه فرار می نمایند این خود نمایانگر تضعیف روحیه دشمن ومـورال عالی نیروهای دفاعی و امنیتی کشور در دفاع از حاکمیت ملی و مردم افغانستان را بیان میدارد زیرا شـجاعت، دلاوری، تعهد و فدا کاری آنها به خاطر دفـاع از وطن و مردم، کلمات غرور آفرینی است که امروز مردم افغانستان ایـن صـفات نیک را در وجود هر یک از منسوبان بـا شهامت نیروهای دفـاعی و امنیتـی بـه ویژه اردوی ملی به خوبی مشاهده مـی کنند.
و انشا الله با حمایت بی دریغ مردم مـا از نیروهای دفاعی و امنیتی شان دیر یا زود ما شاهد تحکیم پایه هـای صلح و امنیت سراسری در کشور،خواهیم بود.

خداداد «علیدوست»
باشنده ناحیه سیزدهم شهر کابل



دا یو څرګند حقیقت دی چې زموږ د ملـي اردو منسـوبینو اوس د خپلـو متـدینو او شـریفو هیوادوالـو پـه زړونو کې ځای پیدا کړی، زموږ ټول هیـوادوال اوس پـه دې پوهیدلي چې ملي اردو هغه امنیتي ځواک دی چې پـه هـر ډول سـتونزمنو او مشـکلو شـرایطو پـر مهـال د خپلـو هیوادولـو مرسته کوي.
اوهمـدا لا امـل دی چـې ملـي اردو دهیوادوالـو د بـاور اواعتمـاد وړ ګرځیدلي.
ملي اردو د هیواد یو مهم اوغښتلي ځواک په څیر منل شوي او د هیواد په هر ګوټ کې د سیمي اوسیدونکي د ملـي اردو لـه منسـوبینو څخـه پـه کلکه ملاتړ کوي. او په پایله کې یې د ملي اردو لیکي یوې ورځې نـه بلې ته لاپسې غښتلي اوځواکمني کیږي.

سیدالله حمیدی

## له هیواد څخه دفاع ته چمتویو

## در دفاع از وطن آماده هستیم



فوتوراپورتران:
بریدمل محمد بصیر«احمدی»، ذبیح الله«فیضی»، محمد یوسف«هاتفی»،بکتاش«امیری»و بریدمل علی شاه«الهام»



منسوبان اردوی ملی در دفاع و حراست از تمامیت ارضی، استقلال کشور از هیچگونه ایثار و فداکاری دریغ ننموده دشمنان صلح و ثبات کشور را در هر گوشه یی که باشند مورد هدف قرار میدهند. تروریستان و دهشت افگنان باید بدانند که افغانستان کشوریست تسخیر ناپذیر و آنهاهیچگاهی به اعمال ضد انسانی و اسلامی شان موفق شده نمیتوانند، چنانچه نیاکان ما در طول تاریخ با قامت استوار در برابر هر متجاوز مردانه رزمیده و دشمنان این خطه را با شکست مذبوحانه مواجه ساخته اند. بناً آنانکه به داعی صلح مردم افغانستان لبیک نگویند از دید نیروهای دفاعی و امنیتی پنهان نمانده و در هر کجا که باشند با ضربات کوبنده ما قرار گرفته نابود خواهند شد. پس بیایید منسوبان اردوی ملی را حمایت نماید، به صفوف جوانانی بپیوندید که عشق به وطن، را معیار رسالت ملی و وظیفوی خود میدانند.

افتخار به فرزندان که از وطن و ارزشهای ملی و تاریخی شان دفاع و حراست می نمایند.

به امید صلح و امنیت سرتاسری در افغانستان.

دگرمن میرویس «نظامی»



د خپلې هغې مینې له امله چې له خپل ګران هیواد سره یې په زړه کې لرم، ومې غوښتل چې د ملي اردو په لیکو کې شامل شم او دا ډېره موده کیږي چې د ملي اردو په لیکوکي شامل شوی یم او د دغې لارې خپل هیواد او ګرانو هیوادوالو ته خدمت کوم، زه په دې ډیر ویاړم چې موږ یوه ځواکمنه او په مدرن وسلو او وسایطو سمبال اردو لرو او ډیر خوښ یم چې زموږ ملي اردو په ډیره زړورتیا او اتلولی سره، له خپل هیواد او شریفو هیوادوالو څخه دفاع کوي.

موږ د ملي اردو منسوبین د خپلو ګرانو هیوادوالو سره دا ژمنه کوو چې موږ به د خپل ژوند تر وروستی سلګۍ د خپل هیواد او خلکو څخه دفاع کوو او دهیواد د سولې او امنیت دېښمنانو ته به هیڅکله اجازه ورنه کړو چې زموږ په ګران هیواد کې خپل ناوړه او کرغیړن پلانونه او دسیسې ترسره کړي او زموږ د شریفو او سوله خوښوونکو خلکو سوکاله ژوند نا امنه کړي.

تورن حشمت الله



طبیعتاً هر منسوب نیروهای دفاعی و امنیتی افغانستان وارث قهرمانان دلیر و شجاع تاریخ پر افتخار کشور هستند که امروز با قامت بلند و سر افرازی تمام بطور آگاهانه از وطن و آبایی شان باقبول قربانی های بیشمار دفاع می کنند.

ما منسوبین قطعات و جزوتام های اردوی ملی کشور در تشریک مساعی با سایر نهادهای امنیتی تاکنون در علمیات های محاربوی و تصفیوی با وجود خطرات ماین، حملات انتحاری، کمین دشمن در محلات که زمینه برای ستر و اخفای دشمن مساعد است تعرض نموده، با تصفیه و تلاشی و افراز پوسته های امنیتی دست آورد های قابل توجهی دست یافته ایم و شجاعانه در میان انبار دود و آتش، انفجار و انتحار خود را به خاطر نجات هموطنان میرسانیم. در خاتمه یک بار دیگر به مردم صلحدوست کشورم اطمینان داده و تعهد می سپارم که منحیث یک منسوب اردوی ملی تا آخرین رمق حیات در خدمت مردم و وطن خویش قرار داشته باشم.

دوهم بریدمن احمدسیر «چاه آبی»



د هیواد د امنیتي ځواکونو هغه سربښندني، قرباني اوزړورتیا چې له خپلو ځانونو یې ښیي، د ډیر قدر او ستاینې وړ دي او په ځانګړې ډول د ملي اردو زړور ځواکونه، چې د هیواد د سولې او امنیت دښمنانو هرډول شوم پلانونه او دسیسې شنډې او له خاورو سره خاورې کوي. له نیکه مرغه زموږ ګران هیواد افغانستان د یوې مجهزې اردو څښتن دی، افغانانو ته پکار ده چې دالله تعالی شکر ادا کړي او د خپلې ملي اردو ملاتړ او ننګه وکړي. زه د ملي اردو دیوه منسوب په توګه په دې ویاړم چې د ملي اردو په لیکو کې شامل او د خپلو نورو ورونو سره په یوه سنګرکې شپې ورځې تیروو او د خپل ګران او سرلوړي هیواد افغانستان او د خپلو شریفو هیوادوالو څخه دفاع کوو، د هیواد اوخلکو د سولې اوامنیت دښمنانو ته په هر سنګر کې غاښ ماتونکې ګوزارونه ورکوو او د هغوی هر ډول شومې او ناولې دسیسې له خاورو سره خاورې او پلانونه یې شنډوو.

لومړی بریدمن محمد د شاهین قول اردو افسر



د ډیرې مودې راهیسې د ملي اردو په لیکو کې شامل او د دې لارې خپل هیواد او ګرانو هیوادوالو ته خدمت کوم.

زه یو افغان یم، زه به د خپلو نیکونو او پلرونو له وصیت سره سم، هیڅکله د خپل هیواد دښمنانو ته دا اجازه ورنه کړم، چې زموږ په هیواد کې لاس وهنه وکړي او خپلې شومې او ورانکارې دسیسې عملي کړي. او زموږ د بې وزله او جګړه ځپلو هیوادوالو سوکاله ژوند یو ځل بیا له نا امنۍ سره مخ کړي. موږ د ملی اردو منسوبین، د خپلو نیکونو په څیر له خپل هیواد او خلکو څخه تل په کلکه دفاع اوساتنه کوو او دهیواد د سولې او امنیت دښمنانو ته به په هرسنګر کې غاښ ماتونکې ګوزارونه ورکړو اوهغوی ته د هیڅ ډول لاس وهنې او ورانکاریو اجازه نه ورکوو.

همایون د شاهین قول اردو سرتیری



دفاع و حراست از تمامیت ارضی، استقلال کشور وظایف اصلی منسوبان نیروهای دفاعی و امنیتی کشور مخصوصاً اردوی ملی می باشد، ما بخاطر انجام وظایف اصلی خویش در مقابل دشمنان صلح و ثبات کشور مبارزه نموده و برای هیچ فرد، گروه اجازه نمیدهیم که طمع تجاوز و اشغال وطن ما را داشته باشند، زیرا کشور ما تاریخ بیش از پنج هزار ساله دارد، افغانستان گورستان متجاوزین بوده و خواهد بود، ما نیز به پیروی از گام های استوار نیاکان خویش از این وطن دفاع نموده و اهداف دشمنان مردم افغانستان را به یاس مبدل خواهیم ساخت.

در اخیر وعده و اطمینان ما برای هموطنان ما اینست تا آخرین رمق حیات از سرزمین آبایی خویش دفاع وحراست نموده و با قربان نمودن جانهای خویش از این وطن دفاع می نمائیم.

رحمان الله بریدمل صحیه قول اردوی ظفر

موږ افغانان يوو او افغانستان زموږ د ټولو افغانانو ګډ کور دی، ټولو ته ښايي چې له خپل ګران هيواد څخه په کلکه دفاع وکړي. او د خپلو پلرونو او نيکونو په څير د دي سپيڅلي خاورې له لويشتي لويشتي څخه ساتنه وکړي.



زه د ملي اردو د يوه منسوب په توګه د خپلو پلرونو او نيکونو له وصيت سره سم د خپل هيواد خدمت کولو ته چمتو يم. او په هر ډول ستونزمنو شرايطو کې به د خپل ګران هيواد افغانستان څخه په ډيره ميړانه دفاع کوم.

زه خپلو هيوادوالو ته ډاډ ورکوم ترڅو چې د ملي اردو منسوبين ژوندي وي د هيواد او خلکو د دښمنانو پروړاندې به لکه د سپر ولاړ وي. او د هيواد د سولې او امنيت دښمنانو هر ډول شوم او کرغيړن پلانونه او د سيسې به شنډې او له خاورو سره خاورې کړي. د ملي اردو اتل منسوبين تل د خپل هيواد اوخلکو په چوپړ کې دي.

محمد خالد د شاهين قول اردو بريدمل

خوشحالم که امروز در کنار فرزندان شجاعی قرار دارم که با شور و شوق فراوان به صفوف نیروهای دفاعی و امنیتی کشور به ویژه اردوی ملی پیوسته. اردویی که مهد شجاعت، پایمردی و از خود گذری می باشد.



منسوبان باشهامت نیروهای دفاعی و امنیتی به ویژه اردوی ملی کشور با مهارت های نظامی که فراگرفته اند، در مقابل دشمنان صلح و آرامش مثل همیشه استوار رزمیده اند.

من در کنار منسوبان شجاع اردوی ملی در راستای تأمین امنیت و ایجاد صلح سراسری در کشور از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزیده و تا آخرین لحظه حیات در دفاع از وطن و مردم خویش قرار خواهم داشت. در اخیر منحیث یک منسوب اردوی ملی کشور پیام من به هموطنان عزیزم این است که در دفاع و حراست از وطن و مردم خویش شب و روز تلاش خواهم کرد.

جگرن سید ذین العابدالدین

دفاع از حاکمیت و ارزش های ملی وظیفه سترگ منسوبان اردوی ملی را تشکیل داده به همین منظور آنها امروز به تکیه گاه اصلی مردم افغانستان مبدل گردیده اند.

همانطوریکه هموطنان عزیز ما میدانند که موفقیت های



نهادهای دفاعی و امنیتی کشور از تعلیم وتربیه ،دسپلین پذیری ،شهامت ، ایمانداری و احساس وطندوستی آنان سرچشمه میگیرد و تابع نظم و مقررات و اصولنامه عسکری است نهاد های دفاعی و امنیتی کشور در طول سالهای اخیر به تمام جهانیان نشان داد که میتوانند از مردم و کشور خویش دفاع و حراست نمایند.

هموطنان عزیز ! حمایت شما قدرتیست که ما را قادرمیسازد تا پله های ترقی وتعالی کشور را از راه صلح وامنیت سراسری با قامت بر افراشته وسربلند طی نمائیم.

محمد نبی بریدمل فرقه ۱۱۱ پیاده کابل

د ملي اردو منسوبين په هر ډول شرايطو او دهيواد په هر کوټ کې خپلې سپيڅلې دندې په ډيره ميړانه او زړورتيا سره سرته رسوي او خپلو ګرانو هيوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د ملي اردو ځواکونه تل د دوی په خدمت کې دي او تل به د ګران هيواد



افغانستان څخه دفاع او ساتنه کوي.

موږ هيڅکله د هيواد د سولې او امنيت دښمنانو ته دا اجازه نه ورکوو، چې زموږ په ګران هيواد افغانستان کې سوله او امنيت ګډوډ کړي، خپل شوم پلانونه او ناوړه دسيسې پلي کړي او زموږ د مؤمنو هيوادوالو سوکاله ژوند نا ارامه کړي.

زه د خپلو هيوادوالو سره دا ژمنه کوم چې، د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د خپل هيواد او خلکو څخه دفاع کولو ته چمتويم.

جمعه خان دهوايي ځواکونو بريدمل

تهيه کننده: بريدمل محمد بصير «احمدی»

## د هیواد او خلکو په دفاع کې د افغان نجونو رول د پراخېدو په حال کې دی

## نقش زنان و دختران افغان در دفاع از وطن و مردم در حال افزایش است



زنان و دختران شجاع افغان دوشادوش برادران شان در طول تاریخ سپرمطمئین در مقابل دشمنان این سرزمین قرار داشته و از این خطۀ نام آور، دلیرانه دفاع و حراست کرده اند.

هدف و آرزوی دیرینه ام بود که تا روزی بتوانم به صفت یک دخت افغان از وطن و مردم خود دفاع و حراست نمایم، به همین سبب اردوی ملی کشور را بالاترین مرجع خدمت گذاری به وطن و مردم خود یافتم وشامل اردوی ملی شدم ، به عنوان یک خدمتگار واقعی کشور از هیچ نوع ایثار و فداکاری در راه دفاع از وطن و مردم دریغ نخواهم کرد. در اخیرتعهد میسپارم که منحیث یک دختر دلیر افغان به خاطر آرامی مردم و امنیت کشور در انجام وظایف محوله از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نمی ورزم.

دوهم بریدمن حمیده«احمدی»



د ملي اردو زړورو ځواکونو په دې وروستیو کې د خپلو بریالیو عملیاتو په ترسره کولو او د ښې لاسته راوړنو په ترڅ کې خپله ځواکمني اووړتیا وښودله اوخپل ولس یې یوځل بیا په دې باوري اوډاډه کړ، چې د دوی سرښندونکي اواتل بچیان د دې جوګه دي چې په هرډول ستونزمنو شرایطو کې د خپلې سپیڅلې خاورې ښځه دفاع اوساتنه وکړي.

په پای کې د ملي اردو د یوې منسوبې په توګه دهیواد خویندو او ورونو ته زما دا پیغام دی، چې راشي د خپل هیواد اوخلکو د دفاع اوساتنې په خاطر خپل خانونه د ملي اردو په لیکو کې شامل کړي اوپه ډیر لوړ مورال او زړورتیا سره له خپل ویاړلي هیواد او شریفو خلکو ښځه دفاع اوساتنه وکړي او دهیواد ویاړلي بیرغ تل رپانده وساتي.

دوهم بریدمن عارفه
د ځانګړي قطعې افسره



بدون شک اجرای عملیات های پیروزمندانه منسوبان قطعات و جزوتامهای اردوی ملی در مناطق مختلف و نا امن کشور نتیجه تلاش های مستمر و متداوم رهبری وزارت دفاع ملی و ستردرستیز به خاطر ارتقای احضارات و بلند رفتن ظرفیت های مسلکی اردوی ملی کشور بوده و این باورمندی را تقویت می بخشد که به توانایی های اردوی ملی روز تا روز افزوده میشود و اردوی ملی مطمئنانه می تواند بر علاوه وظایف محاربوی، تصفیوی و امنیتی، در فراهم سازی شرایط بهتر زنده گی برای مردم ما نقش و رسالت بزرگ و تاریخی خویش را چنانچه توقع می رود ادا نمایند.

تورن زینب «محمودی» افسر قوایی هوائی

تهیه کننده: مونیکا «سلطانی»






MP




د افغانستان جید علما، د هیواد له دفاعي او امنیتي ځواکونو، په ځانګړې توګه د ملي اردو له اتلو منسوبینو څخه په کلکه ننګه او ملاتړ کوي.

چاپ مطبعه ریاست مخابره ستردرستیز